د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکه ګډه کمیټه

د اداری فساد په وړاندی د زیانمننی د ارزونی څانګه

دارالانشاء

# بیا راستنیدونکو او بی ځایه شوو وګړو ته د ځمکی د ویش د پروسی په چارو کی د اداری فساد په وړاندی د زیانمننی ارزونه



کابل

د ۱۳۹۱ کال د مرغومی میاشت

| | | |
|---|---|---|
| **مخففات** | | |
| ID | Idinitity Card | پیژندپانه |
| IDLG | Independent Directorate of Local Governance | د سیمه ایزو ارګانونو خپلواکه اداره |
| MAILS | Ministry of Agriculture, Irregation and Live Stocks | د کرنی اوبو لګولو او مالداری وزارت |
| MEC | Independent Joint Anti-corruption Monitoring and Evaluation Committee | د اداری فساد پر وړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکه ګډه کمیته |
| MoE | Ministry of Education | د پوهنی وزارت |
| MoHRA | Ministry of Hajj and Religious Affairs | د حج او اوقافو وزارت |
| MoI | Ministry of Interior | د کورنیو چارو وزارت |
| MoPH | Ministry of Public Helth | د عامی روغتیا وزارت |
| MoRR | Ministry of Refugies and Repatrates | د کډوالو او راستنیدونکو چارو وزارت |
| MRRD | Ministry of Rural and Rehabilitation Development | د کلیو د پراختیا او بیارغونی وزارت |
| MoUD | Ministry of Urban Development | د ښاري پراختیا وزارت |
| MSI | Management System International | د نړیوال مدیریت سیستم |
| P&G | Pay and Grading | رتبې او معاشونه |
| USAID | United States Agency for International Development | د متحده ایالاتو نړیواله پراختیایی اداره |
| UNHCR | United Nation high Commission for Refugies | د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنری |
| VCA | Vulneribility to Corruption Assessment | د اداري فساد په وړاندی د زیانمننی ارزونه |
| VCA Team | Vulneribility to Corruption Assessment | د اداري فساد په وړاندی د زیانمننی د ارزوني کاري ډله |
| VRF | Voluntary Repatriation Form | له مهاجرت څخه په خپله خوښه د بیا راستنیدلو فورمه چی د ملګرو ملتونودعالی کمیشنری له خوا ویشل کیږي. |

## د کمیتی پیژندنه

د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکه ګډه کمیټه (MEC) لکه څنګه چی له نوم څه یی جوتیږي یوه خپلواکه او ګډه کورنی / نړیواله کمیټه ده چی د افغانستان د جمهوری ریاست د ستر مقام د ۶۱ ګڼی فرمان له مخی د ۱۳۸۸ لمریزکال د کب په میاشت کی وروسته له هغه رامنځ ته شوه چی په بیلابیلو نړیوالو کنفرانسونواو غونډو کی د اداري فساد سره مبارزی ته او له مبارزی څخه د څارلپاره جدی اړتیا ولیدل شوه. یاده کمیټه شپږ کورنی او بهرنی غړي لري چی دری تنه یی کورني او پاتی دری تنه بهرنی غړي دي. د کمیتی کورنی غړي د جمهوري ریاست د ستر مقام له خوا ګمارل شوي او دری بهرنی غړي د نړیوالی ټولنی له خوا معرفي شوي چی د جمهوري ریاست د ستر مقام له منظوري او تایید وروسته د غړیتوب لپاره کمیتی ته ورپیژندل شوي دي. د کمیتي مشري شپږ میاشتی د کورنی غړي له خوا مخته وړل کیږي او په شپږو نورو میاشتوکی د نوموړي کمیتی مشری د بهرنی غړي له خوا پرمخ وړل کیږي.

د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی د خپلواکی ګډی کمیتی د رامنځته کولو موخه داده چی د اداري فساد پروړاندی د افغانستان د اسلامي جمهوریت او نړیوالی ټولنی د مبارزی له کړنو څخه په بی پری او کره ډول څارنه ترسره شي. سربیره پردي یاده کمیته دنده لري چی د کورنیو او نړیوالو ادارو لپاره سپارښتنی او بنچمارکونه په ګوته کړي او وروسته یی له پلی کیدو څخه څارنه وکړي. همدارنګه دغه کمیته باید هرشپږ میاشتی خپل کاري رپوټ جوړ او د افغانستان جلالمتآب جمهور ریس، ملی شورا ، د افغانستان خلکو او نړیوالی ټولنی ته وړاندی کړي. د کمیتی خپلواکي یا ناپیلتوب د افغانستان د دولت او نړیوالی ټولنی له خوا په رسمیت پیژندل شوی او داکار د دی لامل کیږي چی یاده کمیته خپلی ټولی چاری په خپلواکه او پوره رونتیا سره ترسره کړي.

- د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی د خپلواکی ګډی کمیتي دار الإنشاء

د دار الإنشاء د رامنځته کولو موخه د کمیتي لپاره د لازمو آسانتیاوو برابرول ګڼل کیږي ترڅو د کمیتی له پریکړو څخه له اړتیا سره سم څارنه وکړي او د کمیتی د ناستو څخه مخکی لازمی تخنیکی مرستی برابری کړي. د کمیتی دارالانشا د اړونده رئیس تراغیزی لاندی یو لنډ یا مختصرتشکیلاتي جوړښت لري چی د اداری فساد د مخنیوي، د قانون پلی کولو، حکومتوالی او د د فساد پروړاندی د زیانمنیی د ارزونی څانګی رانغاړی .

پورتنی څانګی هریو په خپلواکه توګه خپله کاري دڼله لري چی له کورنیو او نړیوالو کارپوهانوڅخه جوړه شوی چی په خپله اړونده څانګرو کاری برخوکی له یوی خوا د کمیتی له پریکړو او د دولتی ادارو د کړنو څخه څارنه کوي او له بلی خوا هریو یی په خپله اړونده کاري برخه کی څیړنی کوي ترڅو راتلونکی غونډی ته په ټولیزه توګه یو لړبنچمارکونه په تحلیلی ډول برابرکړي او د کمیتی دکارلپاره د سپارښتنو د وړاندی کولو په برخه کی لازمی آسانتیاوی رامنځته کړي.

- د فساد پروړاندی د زیانمننی د ارزونی څانګه

د کمیتی یوه کاری برخه دولتی ادارو ته د سپارښتنو او بنچمارکونو وړاندی کول دی ترڅو د عامه خدمتونو د وړاندی کولو په پروسو کی ښه والی رامنځته شي او د دی کارد ترسره کولو لپاره اړتیا ده چی د عامه خدمتونو د وړاندی کولو په برخه کی د اداری فساد په وړاندی زیانمننی پیدا او و پیژندل شي. له دی امله کمیتي پریکړه وکړه ترڅو د فساد پروړاندی د زیانمنیی د ارزونی څانګه رامنځته کړي چی وکولای شی د عامه خدمتونود وړاندی کولو په برخه کی احتمالی زیانونه وپیژنی او دکارد ښه والی لپاره لازمی سپارښتنی وړاندی کړي ترڅو په اړونده ادارو کی د فساد له احتمالی واقع کیدلو څخه مخنیوی وشي. د فساد پروړاندی د زیانمنیی د ارزونی څانګه د امریکا د متحده ایالاتو د نړیوالی پراختیایی اداری په مالی مرسته او د MSI د نړیوالی اداری د تخنیکی مرستی له لاری د کمیتی د دارالانشا په چوکاټ کی منځ ته راغلی.

## د محتویاتو لړلیک

**د کمیټي پیژندنه ................................................................................................ ج**

- د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی د خپلواکی ګډی کمیټي دار الإنشاء ................................ ج
- د فساد پروړاندی د زیانمننی د ارزونی څانګه ................................................................ ج

**د ارزونی موخه ................................................................................................ أ**

**1. د رپوټ لنډیز ................................................................................................ ب**

1.1. د اداري فساد پروړاندی د پروسی زیانمننه ........................................................ ج
1.2. په رپوټ کی د وړاندی شوو سپارښتونو لنډیز ...................................................... د

**2. سریزه ................................................................................................ 1**

2.1 د ځمکی د ویش په پروسه کی شاملی اداری ........................................................ 1
2.2 د ځمکی د ویش د پروسی د ارزونی اړتیا ........................................................ 1
2.3 د فساد پروړاندی د زیانمننی د ارزونی لاندی برخی ................................................ 2
2.4 د اداری فساد په وړاندی د زیانمننی د ارزونی میتودولوژي ........................................ 2
*2.4.1 د مالوماتو د را تولولو لاره ................................................................ 2*
*2.4.2 د مالوماتو د ارزونی او تحلیل لاره ........................................................ 2*
*2.4.3 د اداری فساد په وړاندی د زیانمننی د پیژندلو لاره ............................................ 3*
*2.4.4 د سپارښتنو د وړاندی کولو لاره ............................................................ 3*

**3. د ځمکی د ویش د پروسی د حقوقی سندونو ارزونه .................................................. 4**

3.1 د حقوقی اسنادو په هکله د پوښتن پانی د ځواب ورکونکو نظریات (د جمهوري ریاست د عالي مقام ۱۰۴ ګڼه فرمان) ................................................................................ 4
3.2 د ځمکی د ویش د پروسی حقوقي چوکاټ ........................................................ 5
3.3 د پروسی د حقوقي چوکاټ کمزورتیاوی ........................................................ 6
3.4 د شته حقوقي چوکاټ د کمزورتیاو په پام کی نیولو سره په پروسه کی د شخصی پریکړو شاملول ............ 7
3.5 په پروسه کی د حقوقي چوکاټ د پلی کولو او پام کی نیولو څرنګوالی .................................... 8
3.6 د پروسی د حقوقی سندونو د پلی کولو لپاره د جزایی مویداتو شتون .................................... 9
3.7 د پروسی د حقوقی چوکاټ زیانمننه: ................................................................ 10
3.8 سپارښتنی ................................................................................ 10

**4. ب: د ځمکی د ویش د پروسی تشکیلاتی جوړښت او انسانی سرچینی ...................................... 12**

4.1 د پروسی تشکیلاتی جوړښت او د پوره کارکونکو شتون ................................................ 12
4.2 په پروسه کی د شاملو کارکونکو پوهه ........................................................ 13
4.3 په پروسه کی د شاملو کارکونکو لپاره د دندو د لایحی موجودیت ........................................ 13
4.4 د کارکونکو مسلکی چلند له مراجعینوسره ........................................................ 14
4.5 د پروسی په کړنو کی د کارکونکو لیوالتیا ........................................................ 14
4.6 د دندی په ترسره کولو کی د کارکونکو رښتینولي .................................................. 14
4.7 د ځمکی د ویش په پروسه کی د تشکیلاتی جوړښت او انسانی سرچینو د فساد پر وړاندی زیانمننی ........... 15

4.8 سپارښتنی ........................................................................................................ 16

**5. ج: د ځمکی د ویش په پروسه کی د ربښتینی کړنو ارزونه.......................................................... 17**

5.1 د ځمکی د ویش په پروسه کی تثبیت شوی پړاوونه ................................................................ 17
5.2 د پورتنی جدول د پړاوونو پایلی........................................................................................ 17
5.3 د ځمکی د ویش په پروسه کی د کارکونکو غیررسمی کړنی ......................................................... 18
5.4 په پروسه کی مدیریت او کنترول : ........................................................................................ 19
5.5 د حقوقو، دندو او مسوولیتونو غیررسمی ویش: ........................................................................ 19
5.6 غیرموجه نفوذ او په پروسه کی د مکلفیتونو ناسمه لارښوونه.......................................................... 20
5.7 د کړنو د ترسره کولو په بدل کی د ډالی اخیستل ........................................................................ 20
5.8 د اداری فساد ، غیراخلاقی او غیرمسلکی چلند په اړه د پروسی د اړوندو څانګو د کارکونکو پوهاوی.......... 21
5.9 د کارکونکو د دندی خوندیتوب .......................................................................................... 21
5.10په پروسه کی د ګټو تضاد............................................................................................. 21
5.11د اداری فساد پر وړاندی د ځمکي د ویش د پروسی د ربښتینو کړنو زیانمننه ...................................... 22
5.12سپارښتنی ................................................................................................................ 22

**6. د. په پروسه کی د مالوماتو او سندونود مدیریت د سیستم ارزونه ................................................ 24**

6.1 د ځمکی د ویش په پروسه کی د مالوماتو او اسنادو د مدیریت د سیستم څرنګوالی ................................ 24
6.2 د اسنادو د مدیریت میکانیزم ........................................................................................... 25
6.3 د اسنادو د مدیریت ډیروخت نیول........................................................................................ 25
6.4 د سندونو خوندیتوب ....................................................................................................... 26
6.5 د اسنادو او مالوماتو د سیستم زیانمننی ................................................................................ 26
6.6 سپارښتنی: .................................................................................................................. 26

**سرچینی.......................................................................................................................... 27**

**لومړی مل ....................................................................................................................... 2**

د ارزونی موخه

د مستحقو بیا راستنیدونکو او بی ځایه شووګړو لپاره د ځمکی د ویش په پروسه کی د اداری فساد په وړاندی د زیانمننی د ارزونی موخه داده چی په پروسه کی د اداری فساد معمول ډولونه،سرچینې،پایلي او د اداری فساد پر وړاندی د زیانمنیدوکچه وپیژندل شی او د پروسی د کار د ښه والی لپاره لازمی سپارښتنی وړاندی شی تر څو د اداری فساد د بیلا بیلو ډولونو د زیان په وړاندی یي مخنیوی وشی.

## 1. د ریپوټ لنډیز

تیرو درو لسیزو تپل شوو جګړو افغانستان د هغو هیوادونو په کتار کی ودراوه چی د مهاجرینو لوړ ارقام لری. په ۲۰۰۱ میلادی کال کی د طالبانو د حکومت له پرزیدلو وروسته د موقتی اداری ریس یو فرمان صادرکړچی پدی فرمان کی یی دا غوښتی ؤ ترڅو مهاجرین په عزتمند ډول بیرته هیواد ته راستانه شي. د دی فرمان په اساس د کډوالو او راستنیدونکو چارو وزارت ته دنده وسپارل شوه ترڅو د کډوالو د بیرته راستنولو لپاره لازمی آسانتیاوی برابری کړي.

بیا راستنیدونکی د نورو ستونزو او ننګونو ترڅنګ د سرپناه د نه لرلو له ستونزی سره هم مخ ول. دی ستونزی ته په پام سره د افغانستان د اسلامی جمهوریت جمهور ریس د مستحقو راستنیدونکو لپاره د ځمکی د ویش فرمان صادرکړ او د کډوالو او راستنیدونکو چارو او همدارنګه یوشمیرنورو وزارتونو ته یی دنده وسپارله ترڅو راستنیدونکو بی سرپناه وګړو ته ځمکی وویشي. د یاد فرمان له مخی نه یوازی د کډوالو او راستنیدونکو چارو وزارت ته مکلفیت وسپارل شو بلکه یوشمیرنورو وزارتونولکه د کورنیو چارو وزارت، دکرنی ، د کلیو د بیارغونی، پوهنی، ښاری پراختیا، عامی روغتیا، کابل ښاروالی په مرکزاو دویمو ځانګو ته په ولایتونوکی دنده وسپارل شوه ترڅو په خپل وار د ځمکی دویش په برخه کی خپل رغنده رول ولوبوي. بی له شکه چی د دی پروسی په هرپړاو کی ستونزی شتون لري، نوموړي پروسه ډیروخت ته اړتیا لري او د اړونده ادارو د مداخلی په برخه کی هم جدي ننګوني شتون لري.

د دی کار اهمیت ته په کتوسره، د کډوالو او راستنیدونکو چارو وزارت لومړنی ستراتیژیک لومړیتوب مستحقو او وړ بی ځایه شوو او راستنیدونکو خلکوته د سرپناه برابرول ګڼل کیږي. تراوس مهاله دغه وزارت په ټول هیواد کی کابو۵۴۷۸۲ نمری ځمکی په ۶۲ ښارګوټوکی ویشلي دي. او په راتلونکو څو کلونوکی به نوموړي وزارت په ټول هیواد کی ۵۰۰۰۰۰ نمری په ۱۰۰ ښارګوټوکی مستحقو راستنیدونکوته وویشي.

له دی سره سره چی د دغی پروسی ډیری مراجعین هغه ترټولو مستحق بی سرپناه افغانان دي چی په تیرو دریو لسیزو کی یی ډیری ستونزی ګاللی او اوس هم د یوی نمری ځمکی د لاسته راوړلو لپاره ډیری ستونزی او ننګونی په مخ کی لري، د دغه راپور موندنی ښیی چی اوس هم بدی اخیستل د کډوالو د چارو د وزارت او اړونده ریاستونو د کارکونکوپه منځ کی په ځانګړی توګه د کابل په ولایت کی لیدل کیږي. له دی کبله د دغی پروسی ارزونه اهمیت لري او له همدی امله د MEC کمیټی د یادی پروسی ارزونه په لومړیتوب کی ټاکلی ده.

په دی خاطرچی د ارزونی د ډلی موخه د فساد د بیلابیلو ډولونو، سرچینو، پایلو، د فساد د اندازی وړاندوینه او زیانمنو ټکو پیژندل ګڼل کیږي، اړونده ډلی د ارزونی په برخه کی یوازی له یوه څیرنیز کړندود څخه کارنه دی اخیستی بلکه بیلابیل کړندودونه یی کارولي دي ترڅو د نظروړ پایلی ترلاسه کړی.

د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی د خپلواکی ګډی کمیټی د ارزونی ډلی له یوی لومړنی ارزونی وروسته چی د لوړ پوړو چارواکواو د ځمکی دویش د پروسی د پلی کوونکو مسوولینو سره سلا او د کار د کړندود لنډه مطالعه پکښی شامله وه د ارزونی طرحه په پروسه کی د زیانمننی د پیژندلو په موخه په لاندی څلورو برخوکی چمتو کړه:

- د پروسی اداری او حقوقی چوکاټ
- د پروسی د انسانی سرچینو جوړښت
- د پروسی د ربښتینی کرنو لړی
- د اسنادو او د پروسی د مالوماتو د مدیریت سیستم

د ارزونی ډلی هڅه کړی ترڅو د ځمکی د ویش د پروسی اړونده ټول حقوقي او اداری اسناد د اړونده ځانګو د کارکونکو په مرسته او همکاری راټول، وګوری او تحلیل یی کړي. کوم اسناد چی د پروسی په اړوند د حقوقی اسنادو په توګه د ډلی په واک کی ورکول شوی په لاندی ډول دی : د موقتی اداری د ریس د ۱۳۸۱ لمریزکال د جوزا دمیاشتی ۲۹۷ ګڼه فرمان ، د ۱۳۸۴ لمریزکال د لیندی د میاشتی ۱۰۴ ګڼه فرمان، له بیلابیلو هیوادونو څخه د کډوالو

د باعزته راستنیدلو په برخه کی د افغانستان د ملی پراختیا ستراتیژي، د وزیرانو دشورا د ۱۳۸۵ لمریزکال د زمري د میاشتی د ۱۶ نیټی مصوبه او د غونډی یادښت چی د کډوالو او راستنیدونکو چارو وزارت له خوا تصویب شوی،

د ارزونی ډلی له دقیقی څیړنی وروسته په ډاګه کړه چی د ځمکی د ویش په برخه کی یوازی د جمهوري ریاست د۱۳۸۴ لمریزکال د لیندی د میاشتی ۱۰۴ ګڼه فرمان د اعتبارړ دی او پردی بنسټ اړونده څانګي او اداری خپل کارمخ ته وړي. دغه فرمان ۱۷ مادی لري چی د ځمکی د ویش د کړندودونو څرنګوالی، مستحق او پلي کونکی کمیټی په اړه مالومات په ځان کی رانغاړی. چی د کډوالو او راستنیدونکوچارو وزارت یی مسوولیت په غاړه لري. سربیره پردی د وزیرانو دشورا د ۱۳۸۵ لمریزکال د زمري د ۱۶ نیټی مصوبه د ځمکی د هری بیسوی قیمت ۱۵۰۰ افغانی ټاکلی چی د ځمکی د بیی د ټاکلو لپاره د یوه حقوقي سند په توګه کارول کیږي.

د ارزونی ډلی په دی موخه چی په پروسه کی د فساد پروړاندی زیانمنه په ډاګه کړي سربیره پردی چی مالومات یی راغونډ کړي، له ۲۰ تنو کارکونکو او مراجعینوسره یی مرکی هم ترسره کړي دي. په افغانستان کی د فساد شالید ته په کتوسره چی د اړونده اداراتوپه بیلابیلو برخو کی ژوره ریښه لري د زیان منلو پیژندل ډیرو پرمختللو وسایلوته لکه VCA اړتیا نلري، دا به له مبالغی څخه لري نه وی که چیری یو شخص د یوه کارد ترسره کولو لپاره یوی دولتی اداری ته مراجعه وکړي او د فساد له بیلابیلو بربنډو ډولونوسره مخ نه شي. په زړه پوری داده چی د ارزونی د ډلی په شتون کی هم داسی بیلګی لیدل شوي چی د ځمکی د ویش مامورینو چی ترارزونی لاندی ول مراجعین د فساد یوشمیرډولونوارتکاب ته هڅول. زموږ همکارانو نیغ په نیغه لیدلی چی یوشمیرمامورینو او کارکونکو پرته له ویری بډی اخیستی، ډالی یی د شیرینی په نوم ترلاسه کولی، همدارنګه د دندی په ترسره کولو کی ځنډ، د اسنادوتزویرد سمون په نوم، د اداری د سلوکی قواعدو نه په پام کی نیول، قومی او نژادي مسایلو ته لمن وهل، د عدالت د پلی کولو په وړاندی خنډ کیدل، له قانونی عذرپرته د دندی له ترسره کولو څخه ډډه کول، له وظیفوي موقف څخه ناسمه ګټه پورته کول او داسی نوری بیلګی لیدل شوي دي.

## 1.1. د اداري فساد پروړاندی د پروسی زیانمننه

کوم مالومات چی په ټولیزه توګه د کارکونکو او بیلابیو سرچینوڅخه ترلاسه شوی په ډاګه کوي چی د ځمکی د ویش په پروسه کی فساد ژوره ریښه لري. د اړوند ادارو کارکونکوهم د فساد شتون د اندیښنی وړ بللی. یولړعمده بیلګی چی دځمکی د ویش پروسه یی د فساد په وړاندی زیانمنه کړی په لاندی ډول دي: د لسګونو مستحقو خلکو مراجعه له یوه څخه ترآتو کلونو پوري ترڅو یوه نمره ځمکه ترلاسه کړي خو هڅو یی هیڅ پایله نه ده لرلي، د یوی نمری ویش په ورته وخت کی بیلابیلوافرادوته ، د بیا راستنیدونکو مجبورول تر څو د کورونو د جوړولو کار هغو شرکتونوته وسپاری چی په مامورینو پوری اړه لری، د ټاکلی مودی څخه مخکی د ملکیت د سند ویش، د کډوالو او راستیندوکو چارو په ریاستونوکی د نفوذ لرونکو افرادو مداخله چی د ویش پروسه ناسم لوری ته بیایی، د بښآرګوټوپه اړونده سیموکی د ځمکی د مافیا له خوا د امتیاز غوښتنه....

له بلی خوا د حقوقي او تشکیلاتی ستونزو لکه د پروسی د حقوقي چوکاټ کمزورتیا، د پروسی له څرنګوالی سره سم د اړونده کړنلاری یا طرزالعمل نه شتون، د کارکونکو ښکته وړتیا، د کاري تجهیزاتو او وسایلو نه شتون، مصلحتي ګمارنه او تبدیلی، د کارکونکو ټیټ معاشونه، دندی ته په وخت نه حاضریدل، اوږد مهاله غیرحاضري، د کارکونکو په چاروکی د چارواکو مداخله، په پروسه کی د کنټرول نشتون، اوږده، غیرمنطقي او پیچلی بیروکراسی، د مسلکی ژمنو او ربښتینو کارکونکوکموالی، د کارکونکو بوختیا په غیررسمی چارو کی، د ځمکی د ویش د کمیسیون موقتی او سیاسی کړنی ، د متسحقینود نوبت نه په پام کی نیول،، د مامورینو د کړنو د څارلو لپاره د یوه میکانیزم نه شتون ، د مراجعینو لپاره د لارښود نه شتون ، سربیره د مالوماتو د مدیریت سیستم هم ستونزی لری. چی دا ستونزی د کارکونکوسره د مرکو، نیغ په نیغه کتنی، مطالعی او د حقوقي او اداری اسنادو د تحلیل او څانګړو مرکو له لاری چی د دغی اداری له چارواکوسره ترسره شوی، لاسته راغلي.

## 1.2. په رپوټ کی د وړاندی شوو سپارښتونو لنډیز:

په دی رپوټ کی وړاندی شوی سپارښتنی د فساد پر وړاندی د ارزونی تر پوښښ لاندی لاندی څلورو زیانمنو برخو ته په پام سره په لاندی موارد و باندی تمرکز لری: د وزارت په کچه په ځانګړی توګه د ځمکی د ویش په برخه کی د پالیسی پاښو، مقرراتو او کړندودونو جوړول ، د کارکونکو د وړتیا د پورته کولو لپاره د روزنیزو پروګرامونو په لاره اچول، د کارکونکو یا مامورینو لپاره د مناسب معاش په پام کی نیول په ځانګړی توګه هغه کارکونکی چی په پروسه او یا د وزارت په نورو برخو کی په کار مشغول دی، د ځمکی د ویش په پروسه کی د څارنیزو میکانیزمونو رامنځ ته کول، د کاری کړنلارو ساده او منطقی کول، د ارشیف د موجوده سیستم سمونه، د مالوماتو او اسنادو د مدیریت د بریښنایی سیستم تنظیمول او ترتیبولومهمه دا چی د مراجعینو دکار د ترسره کولو لپاره د یوی مودی ټاکل ترڅو د مامورینو او مراجعینو له دوامداره تماس څخه مخنیوی وشي او په ټاکلی موده کی د هغوی غوښتنلیکونه اړونده پړاوونه بشپړکړي.

## 2. سریزه

تیرو درو لسیزو تېل شوو جګړو افغانستان د هغو هیوادونو په کتار کی ودراوه چی د مهاجرینو لوړ ارقام لری. په ۲۰۰۱ میلادی کال کی د طالبانو د حکومت له پرزیدلو وروسته د موقتی اداری ریس یو فرمان صادرکړچی پدی فرمان کی یی دا غوښتی ؤ ترڅو مهاجرین په عزتمند ډول بیرته هیواد ته راستانه شي. د دی فرمان په اساس د کډوالو او راستنیدونکو چارو وزارت ته دنده وسپارل شوه ترڅو د کډوالو د بیرته راستنولو لپاره لازمی آسانتیاوی برابری کړي.بیا راستنیدونکی د نورو ستونزو او ننګونو ترڅنګ د سرپناه د نه لرلو له ستونزی سره هم مخ ول. دی ستونزی ته په پام سره د افغانستان د اسلامی جمهوریت جمهور ریس د مستحقو راستنیدونکو لپاره د ځمکی د ویش فرمان صادرکړاود کډوالواو راستنیدونکو چارو اوهمدارنګه یوشمیرنورو وزارتونو ته یی دنده وسپارله ترڅو راستنیدونکو بی کوره وګړو ته ځمکې وویشي.

### 2.1 د ځمکی د ویش په پروسه کی شاملی اداری:

کډوالو او راستنیدونکو ته د ځمکې د ویش څخه مخکی یولړ بنسټیز کارونه دی چی باید ترسره شي. په دی برخه کی ترهرڅه لومړی باید نوی ځمکه د ۱۰۴ ګڼی فرمان له مخی وپیژندل شي چی ځمکه د کرنی د وزارت لخوا پیژندل کیږی او بیا د کډوالو او راستنیدونکوچارو وزارت ته سپارل کیږي، همدارنګه د ښارجوړونی وزارت له ښاروالی، سیمه ایزو ارګانونو او نورو ادارو سره په همغږي کی نقشه برابروي . د کورنیو چارو ، عامی روغتیا،اوبواو انرژي ، او پوهنی وزارتونو سره همغږي رامنځته کیږي ترڅو د اړتیا وړ خدمتونه د امنیت، ښوونی او روزنی، اوبو لګولو او روغتیا ساتنی په برخه کی برابرکړي . وروسته ځمکه مستحقو اشخاصو ته ویشل کیږي چی د ځمکی ویش هم دیوه کمیسیون له خوا ترسره کیږي چی پورتني ارګانونه همدارنګه دوهمی او دریمی څانګی په کی ګډون لري او دکمیټی د غړو د تایید څخه وروسته ځمکه ویشل کیږي. په دی پروسه کی د کډوالو او راستنیدونکو چارو وزارت سربیره نور وزارتونه چی پورته یی یادونه وشوه هم خپل رول لوبوي او په پروسه کی ونده لري.
د ارزونی ډلی په نمونوي توګه د کډوالو په وزارت کی د بیا ځای پرځای کولو ریاست، او د کابل د کډوالو ریاست د تشکیلاتی جوړښت او انسانی سرچینو،د ځمکی دویش په پروسه کی د ریښتینی کړنو، او د مالوماتو او اسنادو د مدیریت د سیستم له پلوه ترارزونی لاندی نیولی دی. دی ته په پام سره چی د ارزونی موخه په پروسی باندی تمرکزؤ نه دا چی یوه مشخصه اداره ترارزونی لاندی ونیسی له دی کبله د دغه رپوټ سپارښتنی د ځمکی د ویش په پروسه پوری اړوند ټولی اداری په ځان کی رانغاړی.

### 2.2 د ځمکی د ویش د پروسی د ارزونی اړتیا:

د ځمکی د ویش د پروسی مراجعین هغه افغانان دی چی په تیرو دریو لسیزو کی د ناورین او ناوړه پیښو قربانی شوي اوس هم دیوی نمری ځمکی د ترلاسه کولو لپاره له ډیرو ستونزو او ننګونو سره لاس او ګریوان دي. د دی کار اهمیت ته په کتوسره، د کډوالو او راستنیدونکو چارو وزارت لومړنی ستراتیژیک لومړیتوب مستحقو او وړ بی ځایه شوو او راستنیدونکو وګړوته د سرپناه برابرول دی. تراوس مهاله دغه وزارت په ټول هیواد کی کابو ۵۴۷۸۲ نمری ځمکه په ۶۲ ښارګوټوکی په ټول هیواد کی ویشلي ده. او په راتلونکو څو کلونوکی به نوموړي وزارت په ټول هیواد کی ۵۰۰۰۰۰ نمری په ۱۰۰ ښارګوټوکی مستحقو راستنیدونکوته وویشي .

د دغه رپوټ موندنی ښیی چی د کډوالو چارو وزارت او اړونده ریاستونو د کارکونکو تر مینځ بډی اخستل په دود بدلی شوی په ځانګړی ډول په کابل ولایت پوری اړوند ادارو کی. له دی کبله د اداری فساد پر وړاندی د مبارزی خپلواکی ګډی کمیټی د دغی پروسی ارزول په خپل لومړیتوب کی ټاکلی دی.

### 2.3 د فساد پروړاندی د زیانمننی د ارزونی لاندی برخی

د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی د خپلواکه ګډی کمیټی د ارزونی پلاوی له یوی لومړنی ارزونی وروسته، د ارزونی طرحه په پروسه کی د زیانمنلو د پیژندلو په موخه په لاندی څلورو برخوکی چمتو کړي :

- د پروسی اداری او حقوقی چوکاټ
- د پروسی د بشري زیرمو جوړښت
- د پروسی د ریښتینی کړنو لړی
- د اسنادو او پروسی د مالوماتو د مدیریت سیستم

### 2.4 د اداری فساد په وړاندی د زیانمننی د ارزونی میتودولوژي

#### 2.4.1 د مالوماتو د را ټولولو لاره

دی ټکی ته په پام سره چی د ارزونی پلاوی ځانګړی موخه د فساد په وړاندی د زیان منلو، د بیلابیلو ډولونو، سرچینو، پایلواو د زیانمنلو د کچی مالومول دی ، له دی امله دغه پلاوی اړینه ګڼلی چی یوازی له یوه څیړنیزی لاری څخه کاروانخلی بلکه د اړتیا په صورت کی یی له نورو څیړنیزو لارو څخه هم ګټه پورته کړی او له بیلابیلو ممکنه سرچینو څخه یی مالومات راغونډ کړیدی. د د فساد پروړاندی د زیانمننی د ارزونی د ترسره کولو په رڼا کی په ډاګه شوی چی اصلی موخه زیان منیدونکو برخوته لاسرسی ګڼل کیږي چی په پای کی له دی لاری د ارزونی پلاوی په ډاډ سره ویلی شی چی کومه برخه یا دپروسی کوم پړاو د کوم ډول فساد په وړاندی زیان منونکی دی. د ارزونی پلاوی دی ټکوته په کتوسره د لاندی لارو څخه ګټه اخیستی ده:

1. په عمومي توګه د رسنیود رپوټونو مطالعه
2. په پروسه کی د شاملو کلیدي اشخاصو او چارواکو سره مرکی او خبری اتری
3. د پروسی د اداری او حقوقی اسنادو مطالعه او تحلیل
4. د پروسی اړونده مراجعینو او شاملو کارکونکوسره ځانګړی مرکی
5. د فوکس ګروپونو او ګډو غونډو په لاره اچول
6. د ډلی د غړو ورځنی کتنی

د اداری فساد په وړاندی د زیانمنلو د ارزونی کړنلاره او د مالوماتو ترلاسه کول له دی لاری له عمومی څیړنیزو کړنلارو او ټولنیزو څیړنوڅخه توپیرلري او پایلی یی د لیدلوری یا د اکثریت او اقلیت د نظریاتو پربنسټ لاسته نه راځی او ترلاسه شوی پایلی د ایجابی او سلبی ثبوت لپاره د حکمی په نسبت د پروسی د ټولو ترسره شوو کړنو لپاره قطعی حکم نه بلل کیږي. د استدلال او پایلو لاسته راوړلو کړنلاره په دی ارزونه کی د قیاسی کړنلارو پربنسټ په پام کی نه نیول کیږي چی په مختلفو درجوکی د تیروتنی امکانات پکی شتون لری، بلکه په دی ارزونه کی له هغی علمی کړنلاری څخه ګټه اخیستل کیږي چی د دواړو کړنلارو مثبت اړخونه په ځان کی رانغاړی

#### 2.4.2 د مالوماتو د ارزونی او تحلیل لاره

ټول ترلاسه شوی مالومات د زیانمننی د پیژندلو معیارونوته په پام سره راټول شوی او وروسته له کره مطالعی څخه په رپوټ کی ځای پرځای شویدی، او داړتیا په صورت کی تحلیل اوتجزیه شوی دي. دغه لړی د بیلابیلو ډولونو، سرچینو، پایلواو د زیانمنلو د کچی د مالومولو یوه وسیله ګڼل کیږي. د دی ارزونی اصلی موخه داده چی په کاری پروسه کی بڼه والی او په اداره کی سمون رامنځته شي. له دی امله د دغی ارزونی پایلی په هیڅ ډول نشي کولای په پروسه کی د ستایلو وړ ښی کړنی ترسیوری لاندی ونیسي .

د اداری فساد په وړاندی د زیانمنلو د ارزونی لاره او د مالوماتو ترلاسه کول له دی لاری له عمومی څیړنیزو لارو او ټولنیزو څیړنوڅخه توپیرلري او پایلی یی د لیدلوری یا د اکثریت او اقلیت د نظریاتو پربنسټ لاسته نه راځی او ترلاسه

شوی پایلی د ایجابی او سلبی ثبوت لپاره د حکمی په نسبت د پروسی د ټولو ترسره شوو فعالیتونولپاره قطعی حکم نه بلل کیږي. د استدلال او پایلو لاسته راوړنی لاری په دی ارزونه کی د قیاسی کړنلارو پربنسټ په پام کی نه نیول کیږي چی په مختلفو درجوکی د تیروتنی امکانات پکی شتون لری، بلکه په دی ارزونه کی له علمی لارو څخه ګټه اخیستل کیږي چی د دواړو لارو مثبت اړخونه پخپل ځان کی رانغاړی.

### 2.4.3 د اداری فساد په وړاندی د زیانمننی د پیژندلو لاره

د اداری فساد په وړاندی د زیانمننی پیژندنه د اداری فساد سره د مبارزی د قانون د دریمی مادی پربنسټ صورت نیسی: په دی ماده کی لاندی موارد اداري فساد ګڼل کیږي :

۱- بډی ، ۲- اختلاس، ۳- د اسنادو غلاکول ، ۴- د رسمي پاڼو او اسنادو غیررسمی اتلاف، ۵- د قانوني واک له حدودوڅخه تیری، ۶- له وظیفوي موقف څخه ناوړه ګټه اخیستل، ۷- د عدالت د پلی کیدو په بهیرکی خنډ اچول، ۸- په شخصی چاروکی له دولتی امکاناتو او رسمی وختونو څخه ګټه اخیستنه، ۹- له قانونی عذرپرته له دندی څخه ډډه کول، ۱۰- د حقیقت پټول، ۱۱- د شتمنی غیرقانونی زیاتیدل، ۱۲- د سندونو تزویز، ۱۳- د دندی انتحال- دهغو چارو د سرته رسولو او یا ورڅخه ډډه کولو واک چی شخص په هغی نه وی ګومارل شوی، ۱۴- د کار د سرته رسولو یا ورڅخه د ډډی کولو په وړاندی د هرډول تحفی یا ډالی اخیستل، ۱۵- د سپارل شوی دندی په سرته رسولو کی ځنډ، ۱۶- د اداری د اړونده سلوکی قواعدو نه رعایتول۱۷- په ورسپارل شوو چاروکی د قومي، سیمه ایزو، مذهبی، حزبی، جنسیتی او شخصی ملاحظاتو شاملول، او ۱۸- د اداری فساد سره د مبارزی په تکلاری کی د مندرجه اعمالو سرته رسول او یا ورڅخه ډډه کول.

ټولو اسنادو او مدارکوته په پام سره چی د ارزونی په ترڅ کی لاسته راغلی او د اداری فساد په وړاندی د زیان مننی د پیژندلو معیارونو ته په کتوسره ، د فساد مروج ډولونه، سرچینی او پایلی او د پروسی یا اداری د زیانمننی کچی د معلول له خوا د علت په لور د استدلال د لاری پربنسټ او برعکس پیژندل شوی او دشمیری په اساس له تفصیل سره ذکرشوی دي. همدارنګه باید یادونه وشي چی د دغه رپوټ موندنی د عمومی مالوماتو پربنسټ ولاړی دي چی له مختلفو سرچینوڅخه اخیستل شوي او د کوم شخص په وړاندی د اتهام پآنی یا تورلګونی بڼه نلري چی په چا تورولګوي او په دی برخه کی تری استفاده وشي. د ارزونی موخه مالومه ده له دی امله په دی رپوټ کی یی کارول هم اصلاحی اړخ لري چی د ټاکل شوی موخی سره سم تری ګټه پورته کیږي.

### 2.4.4 د سپارښتنو د وړاندی کولو لاره:

معمولاً د حل له لارو څخه په طبیعی توګه د زیان منلو د له منځه وړلو په موخه د پیژندل شوی زیان مننی د مفهوم خلاف کاراخیستل کیږي. خو په دی رپوټ کی د ارزونی پلاوی یوازی په دی بسنه نه ده کړي چی زیان منل له منفی نه مثبت یا مثبت نه منفی ته واړوي بلکه له ترلاسه شوو مالوماتو څه په ګټه پورته کولو چی د مرکو په ترڅ کی همدارنګه له نورو لارو ترلاسه شوی، اړونده سپارښتنی هم د پلی کیدنی د اړخ په پام کی نیولوسره له ټاکلی مودی یا ضرب الاجل سره یوځای وړاندی کړي دي.

## 3. د ځمکی د ویش د پروسی د حقوقی سندونو ارزونه

دیوی پروسی حقوقي چوکاټ ټول حقوقي او اداري سندونه لکه قوانین، مقررات، تقنیني فرمانونه، د وزیرانو د شورا مصوبی، د وزارت د مقام تصویب شوی طرزالعملونه او کړنلاری په ځان کی رانغاړی چی دعامه خدمتونو اړونده ګومارل شوی اداره مکلفیت لري چی ټول د پروسی د پلی کولو په وخت کی په پام کی ونیسي .

د یوه منظم حقوقي چوکاټ شتون چی د کاریه ځانګړو برخوکی ځواب ورکونکی وي کولای شي د پروسی د پلی کولو په لاره کی د یوه لارښود په توګه وکارول شي او په پروسه کی له فساد څخه مخنیوی وکړي. کله ناکله یوه ډیره کوچنی کمزورتیا د حقوقی چوکاټ په یوه ماده یا یوه توری کی ډیره پیچلتیا او توپیررامنځته کوي چی په پایله کی په پروسه کی د فساد لامل ګرځی، له دی امله قانون جوړونکي مسوولیت لري ترڅو د هرتوري د ایجابی اوسلبی او دمخالفو مفاهیمو ټول اړخونه او په ټولیزه توګه د یوه تقنیني سند د هری مادی مفاهیم او اړونده بنی او بدی پایلی د قانون، مقرری، فرامینو او طرزالعملونو د جوړولو په وخت کی په پام کی ونیسي .

سره له دی چی حقوق پوهان د موضوع د اهمیت په پام کی نیولو سره حقوقي سندونه جوړوي، خود وخت په تیریدو او اداری شرایطو او د استفادی وړ وسایلو ته په کتو سره ترڅود قانوني چوکاټ ټول الزامات پلی شي، همدارنګه د ظرفیت ټیټه کچه او له حقوقي سندونو څخه ناسم درک او نور بهرنی او کورنی عوامل کولای شی حقوقي چوکاټ د قوت د ټکو په لرلو سره سره د اداري فساد په وړاندی زیانمن کړی. پورتني ډیری عوامل د حقوقي چوکاټ د زیان منلو په برخه کی اغیزه لري له دی امله د ارزونی پلاوی سربیره پردی چی د پروسی نور اړخونه یی څیړلی، حقوقي چوکاټ یی هم ترارزونی لاندی نیولی ترڅوننګونی او د زیان منلو په وړاندی ستونزی په ګوته او وپیژندل شي

### 3.1 د حقوقی اسنادو په هکله د پوښتن پانی د ځواب ورکونکو نظریات (د جمهوري ریاست د عالي مقام ۱۰۴ ګڼه فرمان)

د اداري اوحقوقي چوکاټ په اړه ۵ پوښتنی له ۲۰ مرکه ورکونکوڅخه د مرکی په ترڅ کی پوښتل شوي چی د هغوی د ځواب په ترلاسه کولو سره د حقوقي او اداري چوکاټ ټول اړخونه روښانه شوی. د مرکی د ځوابونولنډیز لاندی لیدل کیدای شي.




**لومړی شکل:** د مرکه کوونکو ځوابونه

## 3.2 د څمکی د ویش د پروسی حقوقي چوکاټ

د ارزونی ډلی هڅه کړی ترڅود څمکی د ویش د پروسی ټول اړونده حقوقي او اداري اسناد د اړونده څانګو د مسوولینو په مرسته او همکاری راټول، مطالعه او تحلیل کړي. کوم اسناد چی د پروسی په اړوند د حقوقی اسنادو په توګه د ډلی په واک کی ورکول شوی په لاندی ډول دی: د موقتی اداری د ریس د ۱۳۸۱ لمریزکال د جوزا دمیاشتی ۲۹۷ ګڼه فرمان ، د ۱۳۸۴ لمریزکال د لیندی د میاشتی ۱۰۴ ګڼه فرمان، له بیلابیلو هیوادونو څخه د کډوالو د باعزته راستنیدلو په اړه د افغانستان ملی پراختیا ستراتیژي، د وزیرانو دشورا د ۱۳۸۵ لمریزکال د زمري د ۱۶ نیټی مصوبه او د غونډی یادښت چی د کډوالو او راستنیدونکو چارو وزارت له خوا تصویب شوی.

د وزیرانو دشورا د ۱۳۸۵ لمریزکال د زمري د میاشتی د ۱۶ نیټی مصوبی د شپږمی مادی لمړی فقره د څمکی د هری بیسوی قیمت ۱۵۰۰ افغانی ټاکلی دی .

د افغانستان د پراختیا ملی ستراتیژي یوه ټولګه ده چی د نورو له بیلابیلو هیوادونو څخه د راستنیدونکو او کډوالو د را ستنیدلو لپاره د لازمو آسانتیاوو برابرولو په موخه د کډوالو او راستنیدونکو چارو وزارت ته یی دنده سپارلی ده. دغه سند اوسنیو شرایطو ته په کتوسره د کارولو وړ نه بلل کیږي. خو کوم څه چی د یاد شوی وزارت په بریښنا پاڼه کی د دغه وزارت د ستراتیژي په هکله نقل شوي، د څمکی ویش او د سرپناه د نه لرلو موضوع ته یی د یوه مهم کاراو ترټولو غوره لومړیتوب په توګه اشاره کړی. او د دغه وزارت په ټولیزلیدلوری او موخه کی د سرپناه د نه لرلو موضوع ته په لومړي درجه کی اهمیت ورکړل شوی.

د افغانستان د موقتی اداری د ۱۳۸۱ لمریزکال د غبرګولی د میاشتی د ۱۳ نیټی ۲۹۷ ګڼه فرمان افغانستان ته د کډوالو او راستنیدونکو با عزت راستنیدل په ډاګه کوی او له دی نه زیات له دی فرمان څخه د یوه لارښود په توګه استفاده نشی کیدای.

د وړتیا د ودی سیمینار اړوند یادښت چی د ۱۳۸۸ لمریز کال د وری د میاشتی په ۲۲ او ۲۳ نیټه په لاره اچول شوی ؤد وزارت د مقام له خوا لاسلیک شوی. چی پدی سند کی د کډوالو دچارو ولایتی چارواکو د چټکو پریکړو ستونزه او نوری ستونزی په ګوته شوی. او په یوه ماده کی یی د څمکی د ویش موضوع ته اشاره کړی ده چی د غونډی د یادښت په توګه ترتیب شوی او له تخنیکی او انشایی لحاظه سمون نلري. د کډوالو لپاره د کډوالو په ښارګوټکی د استوګنی د نمرو د ویش په اړه په دغه سند کی کوم نوی خبره نه ده لیکل شوی بلکه د جمهوري ریاست د عالی مقام په ۱۰۴ ګڼه فرمان او اړونده دستورالعمل باندی ټینګارشوی دی.

د ارزونی ډلی وروسته له ارزونی مالومه کړه چی د څمکی د ویش په پروسه کی یوازی د جمهوري ریاست د۱۳۸۴ لمریزکال د لیندی د میاشتی ۱۰۴ګڼه فرمان د اعتباروړ دی. او پر دی بنسټ اړونده څانګی او اداری خپل کارونه مخ ته وړي. دغه فرمان وروسته د بیلابیلو عنوانونو لاندی د ترلاسه شوو مالوماتو په اساس ترارزونی لاندی نیول شوی.

د مرکه کوونکو موخه د قانونی اسنادو څخه ۱۰۴ ګڼه فرمان دی چی د څمکی دویش په پروسه کی د جمهوری ریاست له خوا صادرشوی دی. دغه فرمان د وزیرانو د شورا د ۱۳۸۴ لمریزکال د لړم دمیاشتی د ۱۶ نیټی د ۳۰ ګڼي مصوبی په بنسټ د مستحقو بی سرپناه او بی ځایه شوو او راستنیدونکو وګړو د ستونزو د حل او هغوی ته د دولتی شاړو څمکو د ویش په موخه وضع شوی دی؛.

دغه فرمان ۱۷ مادی لري او پوره هڅه شوی چی بی سرپناه کډوالو او راستنیدونکو او مستحقو بی ځایه شوو وګړو لپاره د څمکی د ویش اړونده ټولی چاری ترپوښښ لاندی راولی. او همدا رنګه د څمکی د ویش د پروسی د اړوند کمیسیونونو او په پروسه کی د شاملو وزارتونو مسوولیتونه او دندی یی هم رانغاړلی دي.

**پایلې:**

د ارزونې پایلې د دې ښکارندویې کوي چې د جمهوري ریاست د عالی مقام د ۱۳۸۴ لمریزکال د لیندی د میاشتې د ۱۵ نیټې د ۱۰۴ ګڼې فرمان پدې پروسه کې یوازینی حقوقی سند دی .

### 3.3 د پروسې د حقوقي چوکاټ کمزورتیاوې

د مرکه ورکونکو څرګندونې: کوموکسانو سره چې مرکې ترسره شوې د دوی څرګندونې دا په ډاګه کوی چې باید د ۱۰۴ ګڼي فرمان لپاره کړندود جوړ شي ترڅود کړندود په رڼا کې یاد فرمان تفسیرشي او هغه مواد چې روښانه نه دی یا تفسیرته اړتیا لري دیوی اختیار لرونکی مرجع لخوا تفسیرشي او په دې اړه د ښه پلې کیدو په موخه لیکلی لارښودونه جوړ شي. یو شمیرنور بیا په دې اړه بل ډول نظرلري او زیاتوي چې باید یوه بیله او هراړخیزه مقرره تصویب شي څکه یوازې فرمان بسنه نه کوي.

**د موضوع تحلیل :**

کومو ځواب ورکونکوچې منفی ځواب ورکړی ټینګاریې کړی چې د جمهور ریس فرمان کومه ستونزه نلري اود څمکې د ویش د پروسې ټول اړخونه یې ترپوښښ لاندی راوستی .دهغوی استدلال دا دی چې فرمان ستونزې نلري، او یوهراړخیزه او روښانه سند دی. د هغوی په باور د کارکونکو په کړنوکې اوسنې ستونزې د مقرراتو، کړندودونو او کورنیو لارښودونو د نه شتون زیږنده ده. چې د ټولو فرامینو د رونیوالی لپاره اړین بلل کیږي. له دې امله باید د یادو کړنو د تنظیم او اداری په موخه یوکړندود او یوه کورنی مقرره طرحه او ترتیب شي.

کومو کسانو چې دمرکې په ترڅ کې مثبت ځواب ورکړی په دې باور دی چې د جمهوري ریاست ۱۰۴ ګڼه فرمان ډیرې ستونزې لري، او د نوموړي فرمان ډیرې مادی همغږي، یووالی، روښانتیا او صراحت نلري چې د ځمکې د ویش د پروسې پلې کیدل د فساد په وړاندې زیانمنوي. په ځانګړې توګه یوه کمزورتیا په دې فرمان کې چې مرکه کوونکو ورته اشاره کړې د فرمان د یو شمیرمادو د اړونده بندونو پیچلتیا ده چې پوره رونوالی نلري. د بیلګي په توګه د دغه فرمان په دویمه ماده کې د اعتبار وړ اسنادو اصطلاح نه ده واضح شوې او ځانګړې تعریف نلري چې د ناوړه ګټې اخیستنې او اداری فساد لپاره موکه برابروي. د فرمان د دویمې مادې په دوهم بند کې راغلي:

*۲)- د خپلې خوښې د راستنیدلو فورمه یا V.R.F یا نور د اعتبار وړ اسناد چې د راستنیدونکی کډوالی یا بې ځایه کیدل او خپل اصلي او دایمې ځای ته بیرته راستنیدل تایید کړي ، په لاس کې ولري)*

د مرکه کوونکو له نظره د ۱۰۴ ګڼي فرمان تشې او کمزورتیاوې یوازې په دې اصطلاح کې نه خلاصه کیږی بلکه هغوی زیاتوی چې د دوهمې مادې دریمه فقره ډیرې جدي ستونزې لري. د دې فقرې یا بند پر بنسټ هغه راستنیدونکی مستحق ګڼل کیږي چې په هیواد کې دننه د خپلې میرمنې، یا صغیراولاد په نوم ځمکه یا کورونلري. د مرکه کوونکو له نظره ډیرداسې کسان موجود دی چې د کمیسیون له خوا مستحق ګڼل شوي.نوموړی کسان ځمکه لري خو د استفادې وړنه ده یا بله ستونزه لري. له دې مهمه داده چې په افغانستان کې د دې خبرې د تثبیت او پیژندلو لپاره کوم ځانګړی ډیټابیس یا د اسنادو ذخیره نشته. پر دې بنسټ د دې مادی تطبیق په پوره ډول شونتیا نلري. د کډوالو او راستنیدونکو چارو ریاست د خپل مسوولیت د رفع کولو په موخه مستحق یا بې ځایه شوی راستنیدونکی ته استعلام ورکوي ترڅو له خپل استوګن ځای، اړونده کلي، ناحیې یا ولسوالی څخه د ګذردوکیل تایید راوړي چې نوموړي په اړونده سیمه کې ځمکه یا کورنلري، دغه کارپه خپل وار د فساد لپاره موکه برابروي چې د ګذروکیل یا د کلي دمشراو ملک لپاره د ناروا ګټې لاره هواروي او د غیرمنطقي بیروکراسی د رامنځ ته کیدلو لامل ګرځي.

همدارنګه د V.R.F د فورمې لرل هم دا نشې ثابتولې چې لرونکې یې مستحق دی. افغانان ټول شاهد دي چې په سلګونوداسې کسان شته چې د سرحد دواړو غاړو ته تګ راتګ کوی او د دې سند او یوه اندازه پیسو د ترلاسه کولو

لپاره چې د ملګرو ملتونو د عالي کميسارۍ له خوا په پيښور، کوټه، مشهد او زاهدان کې ورکول کيږي په وار وار ځې راځي. د دې خلاف داسې مهاجرين او ګډوال شتون لري چې پرته د سند د ترلاسه کولو هيواد ته راستانه شوي په ربنتيني توګه د څمکې مستحق دي خو له بده مرغه د سند د نه شتون له امله چې هرماموريي په خپل آند تعريفوي له خپل حق څخه محروم او بې برخې پاتې شوي ، پردې بنسټ څه ډول کولای شو دې فورمې ته معتبرسند ووايو.

د پيژندپاڼي تاييد هم په پروسه کې ستونزې رامنځته کړي دي. په داسې هيواد کې چې دقيقه او کره احصايه او سرشميرنه شتون نلري او ډيرې مهاجرين يا د هيواد څخه د باندې نړۍ ته راغلي يا د پيژندپاڼي له لرلو پرته ګډوال شوي او بله کومه بااعتباره سرچينه هم شتون نلري چې کره مالومات وړاندې کړي يا د اړونده ولايت په کچه د دوی اصليت تاييد کړي له دې کبله دا به ډيرستونزمن کار وي چې خپل اصليت ثابت کړي. بې له شکه په داسې حالت کې اشخاص بډې ورکوي او يوسند چې دوی مستحق وښيي ترلاسه کوي دا کارله يوی خوا پروسه اوږدوي او له بلې خوا فساد ته موکه برابروي.

بله حقوقي موضوع د ميرمنې يا صغيراولاد په نوم د څمکې يا کورلرل دي. که چيرې يو شخص د هيواد په يوی لرې پرتې سيمې کې ځمکه ولري چيرته چې امنيت شتون نلري يا د ژوند لازمي اسانتياوې برابرې نه دي يا داسې جايداد ولري چې شاړه وی او د استفادې وړ نه وی. څه ډول کولای شو داسې مستحق کسان له خپل استحقاق څخه بې برخې کړو. همدارنګه د ميرمنې يا اولاد ملکيت هم په ښکاره ډول د مدني او شخصي حقونو د معيارونو خلاف کاردی کيدای شي ميرمن ونه غواړي چې له ملکيت څخه يې څوک استفاده وکړی.

**پايلی:**

له ټولو موندنو او د مرکه کوونکو له ځوابونوڅخه داسې انګيرنه کيږي چې نوموړی فرمان متناقض، له واقعيت څخه لرې او د پلی کيدو وړنه دی .او د کارکونکو د لارښووني لپاره په دې برخه کې يوی مقررې، کړندود او کورنی لارښود ته اړتيا ليدل کيږي. له دې امله د مقررې يا کړندود نه شتون د دې سبب شوی چې فرمان روښوالی ونلري او پلی کيدل يې له ننګونو سره مخ کړي. پر دې بنسټ ويلی شو چې د دوهمې مادې شرايط د فساد په وړاندی زيانمننې ته موکه برابروي.

## 3.4 د شته حقوقي چوکاټ د کمزورتياو په پام کې نيولو سره په پروسه کې د شخصي پريکړو شاملول

د مرکه کوونکو څرګندونې: ډيرې مرکه کوونکو پدی آند ؤ چې فرمان ترډيره بريده څرګندتيا او روښوالی نلري او د راستنيدونکو د کار دمخ ته وړلو په موخه کارکونکې پخپله بايد پريکړه وکړي. او دفرمان د يوی مادې پربنسټ د مراجعينو کارسرته ورسوي. څکه د فرمان د مادو تفسيرسليقه يی بڼه لري او کوم معيارنلري. کومو کسانو چې د شخصي نظروړاندی کول او شاملولو ملاترنه کاوه او په دې باورول چې ۱۰۴ ګڼه فرمان پوره روښانه دی او تفسيرته اړتيا نلري، هغوی له تبصرې څخه ډډه کړی.

**د موضوع تحليل**

له شخصي پريکړو څخه موخه داده چې په يولړ مواردوکې چې په قانون کې څرګندتيا نه وی ورکړل شوی يا تشې په مادو کې موجودې وی. کارکونکې دی ته اړکيږي چې د مراجعينود کارد اجرا کولو په موخه خپله پريکړه وکړي يا د قانون د ګټو د په پام کې نيولو پرته کړنې وکړی. دغه پوښتنه چې د ۱۰۴ ګڼې فرمان په موادوکې د ځمکې د ويش په هکله روښوالی شتون نلري او يادا موکه کارکونکوته برابروي؟ مرکه کوونکو په دې اړه ترډيره بريده مثبت ځواب ورکړی.

هغوی په دې باوردي چې د جمهوري رياست ۱۰۴ ګڼه فرمان د شخصي پريکړو لپاره موکه برابروي او کارکونکې د قانون ګټې په پام کې نه نيسي او پريکړی کوي. هغوی د پوښتنې په ځواب کې داسې نظرورکړی؛ د قانون په هکله نه

پوهیږم. مګر د ځمکی د ویش کارکونکی له مراجعینوسره داسی چلند کوی ګواکی چی په اړونده اداره کی قانون او مقرره له سره شتون نلري. هغوی د خلکو ستونزوته پام نه کوي او دخپلی خوښی سره سم پریکړی کوي.

لیکن د پروسی کارکونکی وایی په ټولیزه توګه د ۱۰۴ ګڼی فرمان د یوشمیرموادو تناقض او ناڅرګندوالی، د کارکونکومتفاوته انګیرنه او پوهه د پروسی او فرمان په اړه همدارنګه د کارکونکو د دندو په لایحه کی د ستونزو شتون د شخصی پریکړو لپاره موکه برابروي. خو دغه پریکړي د فساد لپاره نه کیږی. د هغوی په باور کارکونکی کله ناکله د پورتنیو دلایلو په پام کی نیولو سره دی ته اړکیږي چی په پوره پوهه سره د مراجعینو د ستونزو د حل لپاره شخصی پریکړه وکړي. چی دا کومه ستونزه او عیب نلري. خو دوی زیاتوي چی دغه ډول پریکړه کول بشپړخوندیتوب هم نلري. هغوی خپله اندیښنه په ډاګه کړی چی دا ډول شخصی پریکړي له هرپلوه چی وي یا د قانون د کمزورتیا یا په ارادی ډول کیدای شی په یو دایمی عادت او کلتوربدل شي. ځکه کله ناکله دی ته ورته حالت په سترګو کیږي. د مرکه کوونکو په اند داسی کارکونکی هم شته چی قانون ته احترام نه کوي. او پرته له ویری د خپلی سلیقی او غوښتنی سره سمی کړنی کوي.

**پایلی:**

په هرصورت کوم مالومات چی په ټولیزه توګه د مرکه کوونکو له ځوابونوڅخه ترلاسه شوی دا دي چی د ځمکی د ویش په پروسه کی شخصی پریکړی که د قانونی تشو له امله یا د کارکونکوله پلوه په ارادی ډول وی شتون لری. د پروسی نظم یی له منځه وړي او پروسه یی له خنډ سره مخامخ کړی. په بل عبارت د ځمکی د ویش په پروسه کی شخصي پریکړو دغه پروسه په جدی توګه د فساد په وړاندی زیانمنه کړی. چی کیدای شي د زیانمننی د اصلي سبب په توګه په ګوته شي.

### 3.5 په پروسه کی د حقوقي چوکاټ د پلی کولو او پام کی نیولو څرنګوالی

د مرکه کوونکو څرګندونی : کومو کسانو چی د قانون د نه پلی کیدو په هکله خبری کړي له اوسنی موجوده پروسی او کړنلاری څخه زیات ناخوښه ؤ. او د کډوالو چارو د ریاست په کړنوباندی یی د څارنی د نه شتون له امله سخته اندیښنه وښوده. خو کوم کسان چی له پروسی نه پوره مالومات لري او ډیری یی د اړونده څانګو کارکونکی ول وضعیت ته په ښو سترګو ګوري او خوښ ښکاري.

**د موضوع تحلیل:** د تقنینی سندونو منظم پلی کول په ځانګړي توګه د ۱۰۴ ګڼی فرمان پلی کول په پروسه کی په بیلابیلو عواملو پوری اړه لري چی یو شمیرته یی مخکی اشاره وشوه او پاتی ته به یی وروسته اشاره وشي. په لنډه توګه کوم څه چی مخکی یی یادونه وشوه او د فرمان ناڅرګندوالی ، د دندو په لایحه کی ستونزی او شخصی پریکړی ټول هغه موارد دي چی د ځمکی د ویش د پروسی د منظم پلی کیدو مخته خنډ واقع کیږي.

خو د دی پوښتنی په ځواب کی چی آیا د پروسی حقوقی سندونه د ۱۰۴ ګڼی فرمان په ګډون په منظم ډول پلی کیږي؟ موږ وموندله چی حقوقی سندونه په داسی ډول چی د خلکو خوښی ترلاسه کړي نه پلي کیږي. ډیرو مرکه کونکو او مراجعینو په ډاګه کړی که چیری حقوقی سندونه په نسبی ډول هم پلی شوی وای اوس به خلک دومره نه کړیدل او له پروسی نه به یی سرنه ټکاوه. هغوی زیاته کړی چی د ډالی اخیستل، کارته ناوخته راتلل، د کارونو ځنډول، کارته نه حاضریدل او له مراجعینوسره د کارکونکو ناسم چلند د دوی دا ادعا ثابتوي.

یوه مرکه کوونکی د پورتنی سوال په ځواب کی داسی ویلی: که چیری ۲۰ سلنه قانون پلی شي د مراجعینو ستونزی به په اوسنی پیمانه پاتی نشي. هغه زیاته کړه چی مراجعین نشی کولای د کډوالو چارو ریاست له اړونده چارواکو سره خپلی ستونزی او غوښتنی شریکی کړي ځکه یو لړستونزی موجودی دی حتی په ځینی مواردو کی د چارواکو له خوا مراجعین ډبول شوی هم دی. د ځواب ورکونکو په باور نه یوازی دا چی ۱۰۴ ګڼه فرمان نه پلی کیږي بلکه دغی فرمان په یولړمواردوکی کارکونکوته د فساد موکه برابره کړی. د هغوی له نظره ډیری مراجعین چی مستحق

راستنیدونکی دی د اداری د بی کفایتی او کمزورتیا له امله دی حد ته رسیدلی چی اوس پښیمانی کوی چی کاش دوی خپل غوښتنلیک دی اداری ته نه وای وړاندی کړی.

**پایلی:**

له ټولومالوماتو او ځوابونوڅخه دا مالومیږی چی د ځمکی د ویش د پروسی حقوقی سندونه د ۱۰۴ ګڼي فرمان په ګډون په سم ډول نه پلی کیږي. له دی امله په پروسه کی کمزورتیاوی او تشی لیدل کیږي چی د مراجعینو او مستحقو راستنیدونکو باور او اعتماد یی له منځه وړی او د ځمکی د ویش پروسه یی د فساد پروړاندی زیانمنه کړی ده.

### 3.6 د پروسی د حقوقی سندونو د پلی کولو لپاره د جزایی مویداتو شتون

د ځواب ورکونکو څرګندونی: د دی پوښتنی په ځواب کی مرکه کوونکو ویلی چی جزایی مویدات شتون لري او کارکونکی د ملکی خدمتونو د قانون سره سم روښانه مکلفیتونه لري چی له هغه سرغړونه جرم ګڼل کیږي او په لومړی سرکی له خبرداری نه نیولی څارنوالی ته د پیژندلو او ترعدلی پوښتنی لاندی راتللو پوری دوام کوي. سربیره پردی د ۱۰۴ ګڼی فرمان د ۱۱ مادی په دوهم بندی کی د سرغړونکومراجعینو لپاره په دی اړونده عدلی او قضایی اقدامات په پام کی نیول شوي چی د جرم یا تزویر د ارتکاب په صورت کی دهغوی ځمکه بیرته مستردیږي او خپله د عدلی پوښتنو لپاره څارنوالی ته ورپیژندل کیږي. کوم کسان چی د دی کارمخالفین ول هغوی ویلي چی دا ډول جزایی مویدات سم نه دی او تراوسه داسی اقدامات نه دی لیدل شوی. ځکه د حقوقی سندونو په پلی کولو کی مصلحت په پام کی نیول شوی. او تردیره بریده مصلحت او جوړ جاړی د فساد لامل شوی. کومو کسانو چی دی پوښتنی ته ځواب نه دی ور کړی هغوی ځانګړی استدلال نه درلود خو داسی ښکاریدل چی هغوی د اداری فساد د مرتکبینود ښځی، او اړونده وضعیت په اړه په اندیښنه کی ول.

**د موضوع تحلیل:**

د جزا وړاندوینه په قوانینو کی هغه موارد دی چی د قانون د پلی کیدو په برخه کی مرسته کوي. آیا د ځمکی د ویش په پروسه کی د شاملو کارکونکو لپاره که چیری سرغړونه وکړي کومه جزا په پام کی نیول شوی؟ دا هغه پوښتنه ده چی اکثریت ځواب ورکونکو منفی ځواب ورکړی. هغوی ویلی چی په ۱۰۴ ګڼه فرمان اود ځمکی دویش په نورو حقوقی سندونوکی د جزا وړاندوینه نه ده شوی. خو هغه کارکونکی چی یاد حقوقی سندونه په پروسه کی نه پلي کوی باید د هیواد د جزا د قانون او د ملکی مامورینود د قانون سره سم خپله سزا وګوري. هغوی داسی ګومان کوی چی د دغه شان جزا وړاند وینه پّه فرمان یا قانون کی اړینه نه ده ځکه په دی اړه ټول شرایط د جزا او د ملکی مامورینو په قانون کی په ډاګه شوی دي. په ۱۰۴ ګڼه فرمان کی د دی سوال په هکله چی که چیری راستنیدونکی یا مستحق بی ځایه شوی وګړی د فرمان له احکامو سرغړونه وکړی د کدوالو چارو وزارت هغوی د عدلی تعقیب لپاره عدلی او قضایی ارګانونوته ورپیژنی چی پوره متن یی د ۱۱ مادی په دوهم بندی کی راغلی.

که چیری ثابته شي چی مستحق شخص چی د دی مادی په لومړی بند کی ذکرشوی د دغه فرمان د حکمونو خلاف یوه نمره ځمکه ترلاسه کړي دا نمره مستردیږي او بل مستحق ته ویشل کیږي او مجرم قانونی مراجعوته د عدلی او قضایی تعقیب په موخه ورپیژندل کیږي.

**پایلی:**

د ځواب ورکونکو له ځوابونو مالومیږي چی مجازات د افغانستان په نافذه قوانینوپه ځانګړي ډول د جزا په قانون کی په پام کی نیول شوي. چی یادونه یی په ۱۰۴ ګڼه فرمان کی اړینه نه بلل کیږي. د هغوی په باورکه چیری د دولت چارواکی وغواړی سرغړونکی مامورین ترعدلی پوښتنی لاندی راولي په دی برخه کی ټول شرایط په قانون کی په پام کی نیول شوی او له دی پلوه هیڅ کومه ستونزه نه لیدل کیږي.

### 3.7 د پروسی د حقوقی چوکاټ زیانمنه:

د ارزونی پایلی ښیی چی د جمهوری ریاست د عالی مقام د ۱۳۸۴ لمریزکال د لیندی د میاشتی ۱۰۴ ګڼه فرمان یوازینی حقوقی سند دی چی د هغه پربنسټ د کډوالو او راستنیدونکو چارو وزارت د ځمکی د ویش پروسه په ټول هیواد کی مخته وړي. کومی زیانمننی چی په دی فرمان کی شتون لري په لاندی ډول خلاصه شوی:

- ✓ فرمان بل کوم لاربنوونکی سند د پلی کیدو لپاره له ځان سره نلري یعنی سره له دی چی فرمان ۱۷ مادی لري او یوشمیر برخی یی ډیری عمومی دی چی د ځمکی د ویش څرنګوالی رانغاړي خو مهمه دا ده چی د کډوالو او راستنیدونکو چارو وزارت له دغه فرمان څخه د یوازینی حقوقی سند په توګه د ځمکی د ویش په پروسه کی کاراخلی چی خپله وزارت هم کوم کړندود نلري چی پربنسټ یی د فرمان ټول محتویات په روښانه ډول پلی کړي. له دی امله دا کار د دی سبب شوی چی هرڅوک له فرمان څخه خپل تعبیراو تفسیر ولري، پلی کیدل یی له خنډسره مخ کړی اود ځمکی د ویش په پروسه کی د بی عدالتی سبب شی.
- ✓ د ۱۰۴ ګڼی فرمان بله تشه د ځمکی د ویش په پروسه کی د مرکزی او ولایتی کمیسیونو جوړول دي. پرته له دی چی د کمیسیون د غړو ترمنځ څومره همغږی شتون لري په کابل کی په ځانګړی توګه د ملی ادارو(وزارتونو) او دکابل د دوهمو څانګو ترمنځ هم ستونزی شتون لري. چی له یوی مخی دا کارد دی لامل شوی چی ولایت دی له مرکزی کمیسیون سره مرسته وکړی ځکه ولایت ټینګارکوی چی په کابل کی هم باید د فرمان د اومی مادی پر بنسټ کمیسیون شتون ولري چی د والی دمرستیال له خوا یی مشری وشی او د کابل د سیمه ایزو ادارو څخه کمیسیون ته غړیتوب په پام کی ونیول شي چی دا کار د مرکزی کمیسیون واک د ځمکی په ویش کی کموي. او له بلی خوا د یادو شوو ارګانونو ترمنځ بی باوری منځته راوړي. له دی امله د فرمان اوومه ماده نه یوازی فساد ته لمن وهی بلکه د سیمه ایزو او مرکزی ارګانونو ترمنځ نه همغږی او نه همکاری رامنځ ته کوي.
- ✓ بله مسله دا ده چی د ریس جمهور فرمان له کړندود او پروسیجرڅخه توپیرلري. د کډوالو او راستنیدونکو چارو وزارت تراوسه په دی نه دی توانیدلی چی په دی اړوند یا د وزارت د نورو پروسو لپاره کوم کړندود جوړکړي. پردی بنسټ د یوه واحد کړندود نه شتون د ځمکی دویش په پروسه کی فساد ته موکه برابره کړی او د وزارت نوری کاری برخی یی هم اغیزمنی کړی.
- ✓ پایلی ښیی چی د ځمکی د ویش په پروسه کی د فساد اصلی لامل د یوه منظم حقوقی چوکاټ نه شتون دی او نور عوامل هم له دی موضوع سره یوځای د دی سبب شوي چی د ځمکی د ویش په پروسه کی فساد ته شرایط برابرشي چی داکاراوس هم روان دی او په راتلونکی کی به هم دوام ولري. د دی ستونزی د حل لپاره باید یوحقوقي چوکاټ د ځمکی د ویش د پروسی لپاره رامنځته شي.
- ✓ ارزونی ښودلی چی د وزارت مرکزی کمیسیون چی اوس مهال فعال دی د ۱۰۴ ګڼی فرمان سره سمون نلري او د دی پرځای چی پالیسی جوړه کړی او د پروسی له پلی کیدو څخه څارنه وکړی د ځمکی په ویش کی بوخت دی چی داکار بی له شکه فساد ګڼل کیږي.

### 3.8 سپارښتنی

په دی خاطرچی پورتنی پیژندل شوی زیانمننی له منځه ولاړی شی ، د ځمکی د ویش د پروسی رونوالی تضمین شي، عدالت تامین شي، د مستحقینو حقونوته رسیدنه وشي، له شخصی ګټوڅخه مخنیوی وشی او پروسه د اداری فساد څخه وساتل شي. د افغانستان د ملی ادارو د اوسنی وضعیت او امکاناتو په پام کی نیولو سره هغه سپارښتنی چی د حقوقي او اداری چوکاټ د ښه والی لپاره وړاندی کیږي په لاندی ډول دي؛

أ. په دی خاطرچی د ځمکی د ویش په برخه کی له اوسنی وضعیت څخه ځان وژغورو او د کډوالو د چارو د وزارت نوری کړنی هم ښه والی ومومي باید یوه هر اړخیزه پالیسی چی د پلی کولو وړ او د افغانستان له شرایطو سره سمون ولري طرحه او تصویب شي چی د راستنیدونکو د با عزته راستنیدلو په اړه د نورو ادارو مکلفیتونه هم راونغاړی.

- **اداره/ مسوله شعبه:** د کډوالو او راستنیدونکو چارو وزارت /د ځمکی د ویش د پروسی مرکزی کمیسیون
- **ضرب الاجل یا ټاکلی نیټه:** د دغه راپور له خپرولو شپږمیاشتی وروسته

ب. د ځمکی د ویش د پروسی د تنظیم او ښه والی په موخه باید یو هراړخیزه او لارښوونکی کړندود جوړشي چی د ځمکی د ویش ټول کاری اړخونه راونغاړي او د پروسی د حقوقي چوکاټ له مندرجاتو سره سم پلی شي.

- **اداره/ مسوله شعبه:** د کډوالو او راستنیدونکو چارو وزارت /د ځمکی د ویش د پروسی مرکزی کمیسیون
- **ضرب الاجل یا ټاکلی نیټه:** د دغه راپور له خپرولو شپږمیاشتی وروسته

ج. په دی خاطرچی د حقوقي چوکاټ له پلی کیدو څخه ډاډ ترلاسه شي باید یو روڼ او څارنیز میکانیزم جوړشي :

د. **اداره/ مسوله شعبه:** د کډوالو او راستنیدونکو چارو وزارت /د ځمکی د ویش د پروسی مرکزی کمیسیون

ه. **ضرب الاجل یا ټاکلی نیټه:** د دغه راپور له خپریدلو شپږمیاشتی وروسته

و. د کډوالو او راستنیدونکو چارو وزارت باید په دی موخه چی د ۱۰۴ ګڼی فرمان ټول مواد په ښه توګه پلي شی نه یوازی دا چی مرکزی کمیسیون په کابل کی رامنځ ته کړی بلکه ولایتی کمیسیون هم د کابل ولایت سره په همغږی رامنځته کړي.

1. **اداره/ مسوله شعبه:** د کډوالو چاروزارت او د کابل ولایت
2. **ضرب الاجل یا ټاکلی نیټه :** د دغه راپور له خپریدلو دری میاشتی وروسته

## 4. ب: د ځمکې د ویش د پروسې تشکیلاتي جوړښت او انساني سرچینې

تشکیلاتي جوړښت او انساني سرچینې د یوه سازمان ترټولو مهمه برخه ده چې د لازمو وسایلو او تجهیزاتو، مهارتونو ، مادي او معنوي امکاناتو، صداقت، کاري موکو، ژمنتیا په لرلو سره د پلان شوو کړنو د ترسره کولو او د سازمان موخو د ترلاسه کولو او همدارنګه د حقوقي چوکاټ او کاري دستورالعمل د په پام کې نیولوسره منځ ته راځي. د تشکیلاتي جوړښت او انساني سرچینو اغیزمنتیا د انساني سرچینو د سالمو بنسټونو په موجودیت پورې تړاولري چې مهارت، ژمنتیا او نوښت ولري، همدارنګه حقوقي معیاري چوکاټ، قوي سیاسي ملاتړ، کړنلارې او تګلارې، سم کاري چاپیریال او وسایل، د کاري ساحې سره تړلې د دندو لایحه، منظم پروګرام لرل، او سالمه رهبري او مدیریت پورې هم تړلې دي. له دې کبله په دغه ارزونه کې یوه مهمه برخه چې ارزول شوې د انساني سرچینو او تشکیلاتي جوړښت برخه ده ترڅو کمزورتیاوې، زیانمننې او نورې ننګونې د انساني سرچینو او تشکیلاتي جوړښت په برخه کې وپیژندل شي او د پروسې د ښه والي په موخه لازم تدابیر ترلاس لاندې ونیول شي.

په دې برخه کې د ارزونې لومړنۍ پایلې ښیي چې یولړبنسټونه لکه حقوقي چوکاټ، تشکیلاتي جوړښت، د دندو لایحه، انساني سرچینې او د کاروسایل قسماً شتون لري. خو د اړونده پالیسي او ستراتیژي، دکاري دستورالعمل، قوي سیاسي ملاتړ، کاري پروګرام او د سالم مدیریت او رهبریت نشتوالي په بیلابیلو برخوکې تول د دې لامل شوی چې د کډوالو او راستنیدونکوچارو وزارت د ځمکې د ویش په پروسه کې د کارکونکو کړنې ډیره اغیزمنتیا ونلري.

**د ځواب ورکونکو نظریات د انساني سرچینو او تشکیلاتي جوړښت په اړه**

د دې لپاره چې په دې برخه کې د فساد پر وړاندې زیانمننې وپیژندل شي شپړپوښتنې له شلو تنوسره مطرح شوې چې ۱۲ تنه یې د اړونده څانګو د مختلفو کچو مامورین ؤ او ۸ تنه نوریې مراجعین ول. د پوښتنو ځوابونو د نورو مالوماتو سره یوځای مونږ سره د موخو په لاسته راوړلو یعنې د زیانمننو په پیژندلو کې مرسته کړې.

**دوهم شکل:** د مرکه کوونکو ځوابونه د ۶ پوښتنو لپاره ب/1 الی ب/6.




### 4.1 د پروسې تشکیلاتي جوړښت او د پوره کارکونکو شتون

د مرکه کوونکو څرګندونې: مرکه کوونکو دا ویلي چې که چیرې موجوده کارکونکې خپلې دندې په ښه توګه ترسره کړي،هره ورځ په خپل وخت دندې ته حاضرشي،او په پوره لیوالتیا له معیارونو او مقرراتو سره سم عمل وکړي کولای شي کارونه په آسانۍ سره ترسره کړي. خو دوی په وخت نه حاضریږي او وختې کارپریږدي. او دکارد مخته

وړلو لپاره هم د ښه مدیریت خاوندان نه دي. دا کار د دی لامل کیږي چی له یوی خوا مراجعین ستونزی جوړوي او له بلی خوا هغوی هم کړیږي.

**د موضوع تحلیل:**

د پورتنیو مسایلو په پام کی نیولو سره د کافی کارکونکو شتون د یوی اداری په ښه والی او مراجعینو خوښی په ترلاسه کولو کی رغنده رول لري. خو کوم مالومات چی د ارزونی په ترڅ کی ترلاسه شوي په ډاګه کوي چی مرکه کوونکو د دی پوښتنی په ځواب کی چی کافی کارکونکی شتون لري؟ ویلی چی د کار د حجم په پرتله پوره کارکونکی شتون لري خو د کارکونکو مدیریت باید ښه والی ومومي.

**پایلي:**

په ټولیزه توګه له ځوابونو، مطالعی او تحلیل څخه دا نتیجه لاسته راځی چی د کار د حجم په پام کی نیولو سره کافی کارکونکی په اداره کی موجود دي. لکه څنګه چی یادونه وشوه تشکیل د کارد حجم سره سمون لري خو مدیریت یی ناسم دی چی له یوی خوا کارونه شاته غورځوي له بلی خوا د فساد لپآره موکه برابروي.

## 4.2 په پروسه کی د شاملو کارکونکو پوهه

د مرکه کوونکو څرګندوني: مرکه کوونکو د دی پوښتنی په ځواب کی چی کارکونکی پوره پوهه لري که نه؟ ویلی دی هغوی د پوهی په مختلفو کچوکی قرارلري او زیاته کړی یی ده چی د کارکونکو د پوهی کچه د نورو وزارتونو سره په پرتله د منلو وړ ده او بسنه کوی ځکه اکثریت یی د لسانس درجه لري او یو شمیریی له دولسم ټولګی څخه فارغ دي.

**د موضوع تحلیل:**

د ځواب ورکونکو له جملی څخه یوشمیرکمو کسانو د کارکونکو د لیک لوست د ټیټی کچی یادونه کړی ده. د هغوی په باور یوشمیرکارکونکی چی د ځمکی د ویش په پروسه کی کار کوی کمی زده کړی لري. هغوی ویلی که چیری دغو کارکونکو ډیری زده کړی لرلای کیدای شي چلند یی له خلکوسره ښه شوی وای. یوه مرکه کونکی د پوښتنی په ځواب کی ویلی چی د کډوالو په ریاست کی یوشمیرکارکونکی ابتدایی د لیک او لوست وړتیا هم نلري. خو ډیری بیا په دی نظردی چی د کډوالو د چارو کارونه مسلکی او تخنیکی کسانوته اړتیا نلري بلکه هغه مامورین چی د دولسم ټولګی څخه لوړی زده کړی ولري کولای شي کارپه ښه توګه مخته یوسي. د کافی تجربی له پلوه دغه کارکونکی چی اوس د ځمکی د ویش په برخه کی کارکوي مخکی یی د مسکن په برخه کی د یاد وزارت په اړوندو څانګو کی کارکړي او د پوره تجربی خاوندان دي.

**پایلی:** په لاس راغلی مالومات دا په ګوته کوی چی په ټولیزه توګه د ځمکی د ویش په پروسه کی شامل کارکونکی د نورو وزارتونو سره په پرتله پوره تجربه لري. خو باید له یاده ونه ایستل شي چی کومی کتنی چی د ارزونی ډلی ترسره کړی دایی مالومه کړی ده چی دځمکی د ویش د پروسی کارکونکی له دندی سره پوره لیوالتیا نلري او په عین حال کی فنی او اخلاقي روزنی ته اړتیا لري.

## 4.3 په پروسه کی د شاملو کارکونکو لپاره د د ندو د لایحی موجودیت

د مرکه کوونکو څرګندونی: د مرکه کوونکو نظریات ښیی چی په ټولیزه توګه دکارکونکو د دندو په لایحه کی ستونزی، ناڅرګندوالی، تناقض، مشابهت او د همغږی نه شتون لیدل کیږي او په سمه توګه نه پلی کیږي. سربیره پردی ترټولو له ننګونی ډکه مسله دا ده چی د لایحی په وروستی برخه کی راغلی ، د نورو سپارل شوو دندو ترسره کول چی د اړونده سوپروایزریا آمرله خوا سپارل کیږي؛ چی په خپل وار سره د مامورینو دسرګردانی او آمرینو لپاره د ناوړه ګټی اخیستنی موکه برابروي.

**د موضوع تحلیل** : ارزونی په ډاګه کړی چی د کډوالو د ریاست ټول کارکونکی د دندو لایحه لري. د کډوالو او راستنیدونکو چارو وزارت د کارکونکو د دندو لایحی د رتبو او معاشونو د سیستم له پلی کیدو وروسته سمی شوي دي. خو یو کم شمیرکارکونکی تراوسه د دغه پروسی تر پوښښ لاندی ندی راغلی. او د دندو لایحی نلري. دا چی د کارکونکو د دندو لایحی معیاری او له دندو سره سمون لري ؟ ارزونی ښودلی چی په اکثره مواردوکی ناڅرګندوالی، تناقض او تداخل لیدل کیږي.

**پایلی:**

په ټولیزه توګه د مالوماتو تحلیل او تجزیه په ګوته کوی چی باید د دندو لایحی بیا وکتل شي. ترڅو د کارکونکو دندی له اړونده بست یا پست سره سمون ولري.

### 4.4 د کارکونکو مسلکی چلند له مراجعینوسره

**څرګندونی**: مرکه کوونکو د کارکونکو مسلکی چلند په کلکه رد کړی او زیاته کړی یی ده چی مراجعین له اکثره کارکونکوڅخه سرټکوي. هغوی وایی چی نه یوازی مسلکی چلند نه کوی بلکه سپکاوی او وهل ټکول هم لیدل شوی.

**د موضوع تحلیل**: اکثره ځواب ورکونکو ویلی چی کارکونکی د کار په جریان کی له مراجعینوسره مسلکی چلند نه کوي. او په دی برخه کی قوانین، مقررات او لایحی په پام کی نه نیسی. هغوی ویلی که چیر ی د کډوالو چارو ریاست د ځمکی د ویش په پروسه کی د ۱۰۴ ګڼی فرمان مواد په پام کی ونیسی او د فرمان د محتویاتو سره سم په خپلو کړنوکی تغیر راولی. ډیرې ستونزی به هواری شي او مراجعین به له ستونزو سره نه مخ کیږي.

**پایلي**:له موندنو او ځوابونو څخه داسی مالومیږی چی د کډوالو چارو ریاست د ځمکی د ویش د پروسی کارکونکی له مراجعینوسره د قانون مقرراتو او لایحی سره سم چلند نه کوی. له دی امله نه یوازی دا چی مراجعین خوښ نه دی بلکه بی شمیره شکایتونه هم لري.

### 4.5 د پروسی په کړنو کی د کارکونکو لیوالتیا

**د ځواب ورکونکو څرګندونی:** ځواب ورکونکو د دی پوښتنی په ځواب کی ویلی چی د لیوالتیا نه شتون لاملونه د کافی معاشونو، د مکافاتو او مجازات نه شتون او داسی نور په لړکی لري. هغوی زیاته کړی چی کارکونکی د مجبوریت له مخی په دولت کی کارکوي پرته له دی بله انګیزه وجود نلري.

**د موضوع تحلیل**: د کارکونکو نه لیوالتیا د پروسی پلی کول اغیزمن کړی دی. هغوی له دندو سره ډیره لیوالتیا نلري. دا چی ولی لیوالتیا نلري، ځواب ورکونکو ویلی چی یوسبب یی د ښه معاش او هڅونی نه شتون دی که چیری هغوی بله ښه خوښنه ولري بی له شکه دنده به پریږدي.

ځواب ورکونکی وایی چی د کارکونکو له خوا د ډالی اخیستل، ناوخته دندی ته راتلل، د دندی په ترسره کولو کی ځنډ ، دندی ته نه حاضریدل، د کارونو شاته اچول ټول د نه لیوالتیا نښی دي. هغوی وایی که چیری کارکونکی له خپلی دندی سره مینه ولري د ځمکی د ویش پروسه به ښه مخته ولاړه شي.

**پایلی:** ارزونه ښیی چی یو شمیرکارکونکی له خپلی دندی سره لیوالتیا او مینه نلري. دا لامل د دی سبب شوی چی د ځمکی دویش پروسه د فساد په وړاندی زیانمنه او دخلکو د خوښی کچه راټیټه شی.

### 4.6 د دندی په ترسره کولو کی د کارکونکو رښتینولي

څرګندونی: ځواب ورکونکی په دی باوردی چی مطلق حکم نه شو کولای چی کارکونکی له یوه سره ټول رښتینی ندی خو باید وواېو چی اکثریت کارمندان هیڅ ډول رښتینولی نلري او هره ګړی د مراجعینو جیب ته ګوری ترڅو له هغوی نه بډی واخلي.

**د موضوع تحلیل:**

مرکه کوونکی وایی د دولت په هیڅ یوه اداره کی کارکونکی لازمه رښتینولی نلري. خو د کډوالو چارو په ریاست کی دا ستونزه نوره هم جدی ده. ډیری مراجعینو پوښتنی په ځواب کی ویلی چی دندی ته ناوخته راتلل، د کارونو شاته غورځول، د ډالی اخیستل ، بډی اخیستل، په رسمی وخت کی غیررسمی کارونه کول، غیرحاضری اوداسی نور ټول د رښتینولی په نه شتون باندی دلالت کوي. یوه مراجعه کونکی ویلی : که کارکونکو رښتینی وی دیوی اونی کاریوه کال ته نه ځنډیده، البته هغوی استثنات په دی برخه کی له پامه نه دی غورځولي. هغوی داسی نظرلري چی یو ډیرکم شمیرکارکونکی چی د ګوتو په شماردي خپله دنده په رښتینې ډول ترسره کوي.

**پایلی:**

په ټولیزه توګه د ټولو موندنو او مالوماتو له مطالعی او تحلیل څخه داسی ارزونه کوو چی د ځمکی د ویش د پروسی ډیری کارکونکی لازمه رښتینولی نلري چی دا کار د دی لامل شوی چی پروسه د فساد په وړاندی زیانمنه کړی.

## 4.7 د ځمکی د ویش په پروسه کی د تشکیلاتی جوړښت او انسانی سرچینو د فساد پر وړاندی زیانمننی

د ارزونی پایلی ښیی چی یوکال مخکی د کډوالو او راستنیدونکو چارو وزارت د رتبواو معاشونو د سیستم تر پوښښ لاندی راغلی او د یو مناسب ستراتیژیک پروګرام او د دندو د لایحی لرونکی وزارت ګڼل کیږي. خو له دی سره سره وروسته له دی نه چی ستراتیژیک پلان او د دندو لایحی وکتل او تحلیل شوی. او د نورو سرچینو څخه د لاسته راغلو مالوماتو پر بنسټ د تشکیلاتی جوړښت او د دندو د لایحی په برخه کی یولړ زیانمننی وپیژندل شوی. چی په لاندی ډول دی.

- ✓ د بی ځایه شوو ګډوالو د ځای پرځای کولو عمومی ریاست د وزارت په داخلی تشکیل کی دنده لري چی مقررات، کرندودونه، د راستنیدونکو او مستحقو بی ځایه شوو وګړو لپاره د وزارت د سرپناه د ویش د ستراتیژی د پلی کولو میکانیزم او له پلی کیدو څخه څارنه وکړی. ارزونی موندلی ده چی دغه ریاست خپله دنده د پوره وړتیا د نه لرلو له امله په سمه توګه نه ده ترسره کړی. له دی امله د غه ریاست د وزارت له رامنځته کیدو وروسته تراوسه نه دی توانیدلی چی خپل مسوولیتونه په ښه توګه ترسره کړي.
- ✓ د کډوالو او راستنیدونکو چارو وزارت په ټولیزه توګه، په ځانګړی ډول د کډوالو چارو ریاست او نورریاستونه لکه څنګه چی د دغه وزارت د چاراوکو له خولی ویل شوی د وړتیا له نه شتون سره مخ دي چی دی ستونزی د وزارت ټولی کړنی په مرکزاو ولایتونوکی له ستونزو سره مخ کړي او بلاخره فساد ته یی لاره هواره کړي.
- ✓ سره له دی چی په پروسه کی مدیریتی معیاری کړنلاره شتون نلری، یو لړنوری ستونزی لکه سلیقه یی چلند د ځمکی د ویش په پروسه کی، د متخصصو انسانی سرچینو او ماهرو رښتینو او ژمنو اشخاصو کموالی ټول په ګډه پروسه د فساد په وړاندی زیانمنوی.
- ✓ د چاراواکو غیرمسلکی چلند د ټیټ رتبه کارکونکو سره، له دندی یا موقف څخه ناوړه استفاده، سلیقه یی تبدیلی او مقرری ټول هغه موارد دی چی د ملکی خدمتونود کارکونکو د قانون د سلوکی چلند د قانون څخه سرغړونه بلل کیږي چی دا کاریه مستقیم ډول د ځمکی د ویش د پروسی په کارکونکو اغیزه کوي او په هغوی کی د رښتینولی نه شتون او نه ژمنتیا تقویه کوي.
- ✓ سره له دی چی یوکال مخکی د کډوالو او راستنیدونکو چارو وزارت د رتبواو معاشونو د سیستم ترپوښښ لاندی راغلی او د یوه مناسب ستراتیژیک پروګرام او د دندو د لایحی لرونکی وزارت ګڼل کیږي. خو له دی سره سره په یوشمیرریاستونوکی بستونه تش پریښودل شوی او یو شمیرکارکونکی په موقت یا خدمتی ډول په دغو بستونوکی دنده ترسره کوی چی داکار هم پروسه د فساد په وړاندی زیانمنوي.

## 4.8 سپارښتنی

أ. د کډوالو او راستنیدونکو چارو وزارت باید د ملکی خدمتونو او اداری اصلاحاتو له کمیسیون سره په ګډه او همغږی خالی بستونه ډک کړي په ځانګړي توګه هغه بستونه چی د ځمکی د ویش د پروسی په برخه کی تش ساتل شوی باید د ازاد رقابت له لاری د وړو کسانو له خوا ډک شي.

- **اداره/ مسوله شعبه:** د وزارت مقام او د اداری اصلاحاتوله کمیسیون
- **ضرب الاجل:** د راپور له خپریدلو څخه شپږمیاشتی وروسته

ب. د فساد سره د مبارزی اختصاصی اداری باید د دغه وزارت د کارکونکود پوهاوی په موخه یولړسیمینارونه د اخلاقی سلوک او مسلکی چلند په برخه کی چی څه ډول له مراجعینو سره چلند وشي په لاره واچوي.

- **اداره/ مسوله شعبه :** د څارنی عالی اداری – د وزارت مقام
- **ضرب الاجل:** دوامداره

ج. د کډوالو او راستنیدونکو چارو وزارت باید د ملکی خدمتونو او اداری اصلاحاتو له خپلواک کمیسیون سره یو تړون چی لاندی موارد په لړکی ولري لاسلیک او پلی کړي:

۱-: د تشو بستونو لپاره د وړ، مسلکی ژمن او ربتینو اشخاصو ګمارل

۲- د کلنی ارزونی پربنسټ د غیرمسلکی، فاسدو او بی کاره کارکونکو پیژندل

۳- د اختصاصی روزنیزو پروګرامونوطرحه کول په ځانګړی ډول د ځمکی د ویش د پروسی کارکونکوته

۴- د مستحقو کارکونکو پیژندل او هغوی ته د سوپرسکیل معاش ټاکل ، په ځانګړی توګه د ځمکی د ویش د پروسی کارکونکوته

- **اداره/ مسوله شعبه:** د وزارت مقام او د اداری اصلاحاتو کمیسیون
- **ضرب الاجل:** د راپور له خپریدلو څخه ۴میاشتی وروسته

## 5. ج: د ځمکې د ویش په پروسه کې د رښتینې کړنو ارزونه

د ځمکې د ویش په پروسه کې د حقیقي کړنو څخه موخه داده چې د دغې پروسې پیل او پای د وړاندې شوو معیارونو او حقوقي چوکاټ پربنسټ صورت ومومي ترڅو د فساد ډولونه، سرچینې، اود اداری فساد کچه او د فساد  په وړاندې زیانمننه  چې د عدالت د رامنځته کولو په وړاندې خنډ ګرځي وپېژندل شي او لازمې سپارښتنې د دغې پروسې د کړنو د لاښه والي په موخه د کډوالو او راستنیدونکو چارو وزارت د مادي او تخنیکي وړتیا او اوسنی وضعیت په پام کې نیولوسره وړاندې شي.

مخکې له دې نه چې په دې اړه د ځواب ورکونکونظریاتوته پاملرنه وکړو، لاندې په پروسه کې په مستند ډول هغه مالومات چې د ځانګړو مالوماتو د مطالعې او ارزونې څخه را اخیستل شوی همدارنګه له کارکونکو سره د مرکو په ترڅ کې ترلاسه شوي وړاندې کیږي.

### 5.1 د ځمکې د ویش په پروسه کې تثبیت شوي پراوونه

د ځمکې د ویش د پروسې پړاوونه د لاسته راغلو مالوماتو پر بنسټ په لاندې ډول پیژندل شوي. چې ټولې هغه رښتینې کړنې په  ځان کې رانغاړي چې له یوې نمونوی دوسیې څخه چې د کابل ولایت د کډوالو  او راستنیدونکو چارو ریاست لخوا د ارزونې د ډلې په واک کې ورکړل شوې وه لاسته راغلي.هغه مالوماتو چې په لاندې جدول کې انعکاس موندلی دهغو کړنو ښکارندويي کوي  چې په حقیقت کې د مستحق شخص په اړونده سندونو باندې د یوه کال په ترڅ کې ترسره شوی او  هیڅ ډول مبالغه او زیاتې پکښې نشته.

| شمېره | مرحلې | د هرې مرحلې پړاوونه |
|---|---|---|
| ۱ | د عریضې یا غوښتنلیک او پیژندپاڼې وړاندې کول | ۱۵ |
| ۲ | د بې ځایه کیدلو او بیرته راستنیدلو ثبوت یا سند | ۹ |
| ۳ | د غوښتونکي د سندونو ثبت ا وراجستر او اړونده کمیسیون ته راجع کول ترڅو مستحقتوب یا نه مستحقتوب یې ثابت شي | ۱۸ |
| ۴ | د متسحق شخص لخوا د ځمکې د بیې تادیه کول او مستحق شخص ته د ځمکې ویش | ۱۱ |
| ۵ | د ځمکې د ۳۰ یا ۴۰ سلنې ودانول او د ملکیت د موقت سند ترلاسه کول | ۱۰ |
| ۶ | د ځمکې د ملکیت دایمي سند د ښاروالۍ لخوا هغه وخت ورکول کیږي چې ځمکه بشپړه ودانه شي. | |

**یادښت: د پړاوونو  مستند شوی جدول کولای شي په لومړۍ مل کې وګورۍ.**

**کتنه: د کډوالو  د ریاست د یوشمیرمدیرانو له قوله اوس مهال په پروسه کې یولړبدلونونه رامنځ ته شوی.**

د کډوالو  د ریاست د یوشمیرمدیرانو له قوله اوس مهال په پروسه کې یولړبدلونونه رامنځته شوی. کوم وضعیت چې په پورتنی جدول کې په سترګوکیږي وروسته له دې به د ټولو مستحقو راستنیدونکو لپاره وکارول شي. د کارکونکو په وینا که چیرې د مراجعینو په سندونوکې کومه ستونزه  ولیدل شي کوم څه چې په یاد جدول کې ذکرشوی هررو مرو به پلې کیږي. خو د کډوالو  او راستنیدونکو چارو وزارت  لوړپوړو چارواکو په وینا اوس هم ورته وضعیت روان دی او په پروسه کې کوم ښه والی نه دی رامنځ ته شوی.

### 5.2 د پورتنی جدول د پړاوونو پایلې

د ارزونې د ډلې د موندنو  پربنسټ چې له نمونوی دوسیې څخه ترلاسه شوی  یو وړ شخص باید ۵ مرحلې بشپړې کړې ترڅو د ځمکې موقت مالکیت ترلاسه کړي. هره مرحله اړونده پړاوونه لري چې په پروسه کې د شاملو وزارتونو د اړونده مامورینو لاسلیکونه هم په لړکې لري. یوشمیردغه موارد اداري منطق لري خو په یو شمیرموارددو

کی سلیقه یی چلند کیږي او پرته د مسوولیت د رفع کولو بل کوم منطق نه لیدل کیږي. په تولیزه توګه په پروسه کی یو عارض یا د ځمکی غوښتونکی باید تول ۶۳ پراوونه بشپړ کړی ترڅو د یوی ځمکی موقتی مالکیت ترلاسه کړي. د مراحلو درجه بندی چی د مرکو څخه د لاسته راغلو مالوماتو پربنسټ ترسره شوی. په هره مرحله کی د بډو ورکول اړین بلل کیږي خو د هری مرحلی د اهمیت په پام کی نیولو سره د بډو اندازه هم توپیرلري په لاندی جدول کی تول مراحل د زیان منلو په اساس درجه بندی شوي:

**په لاندی جدول کی د ځمکود ویش هغه مرحلی کتلی شي چی د ترټولو زیاتی د فساد په وړاندی زیانمنی دي.**

| شمیره | د پروسی مرحلی | د زیانمننی درجه (۱-۵) (1= شدید ، 5= ضعیف) | | کتنی |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | د غوښتنلیک او پیژندپاني وړاندی کول | ۲ | **ځلورمه درجه** | د پروسی مرحلی د زیانمننی له پلوه د هغو ځوابونو پر بنسټ درجه بندی شوی چی د مرکوپه ترڅ کی ترلاسه شوی. |
| ۲ | د بی ځایه کیدلو او بیرته راستنیدلو ثبوت یا سند | ۲ | **دوهمه درجه** | |
| ۳ | د غوښتونکی د سندونو ثبت ا وراجستر او اړونده کمیسیون ته راجع کول ترڅو مستحقتوب یا نه مستحقتوب یی ثابت شي | ۱ | **لومړی درجه** | |
| ۴ | د وړ شخص لخوا د ځمکی د بیی ورکول او وړ شخص ته د ځمکی تسلیمول | ۳ | **دریمه درجه** | |
| ۵ | د ځمکی د ۳۰ یا ۴۰ سلنی ودانول او د ملکیت د موقت سند ترلاسه کول | ۳ | **دریمه درجه** | |
| ۶ | د ځمکی د ملکیت دایمی سند د شاروالی لخوا هغه وخت ورکول کیږي چی ځمکه بشپړه ودانه شي. | تراوسه نه دی پلی شوی | | |
| **په پورتنیو مراحلو کی د زیانمننی احتمال:** د بډو ورکول، واسطه او په پروسه کی نفوذکول، جعل او تزویر | | | | |

**په دی برخه کی د پوښتنپاڼی د ځواب ورکونکو او نورو سرچینو څخه تر لاسه شوی مالومات:**

د ارزونی ډلی سربیره پردی چی دیوی نمونوي دوسیی څخه په استفادی د پروسی پړاوونه په مستند ډول مالوم کړی له نورو مالوماتی سرچینو څخه یی هم مالومات ترلاسه کړي لکه د۲۰ کسانو سره مرکه، خانګړی لیدنی ، د کډوالو چارو دوزارت له منځپورو،ټیټ رتبه او لوړ پوړو چارواکو سره کتنه او خبری اتری، د ځمکی د ویش د پروسی د کارکونکو د کړنو نیغ په نیغه کتنه.




**دریم انځور :** د مرکه کوونکو ځوابونه ج/1 الی ج/9.

## 5.3 د ځمکی د ویش په پروسه کی د کارکونکو غیررسمی کړنی

د ځواب ورکونکو څرګندونی:د مرکه کوونکو نظریات په دی برخه کی دا ثابتوي چی په پروسه کی غیر رسمی کړنی شتون لری. هغوی د پروسی اړونده کارکونکی تورنوي چی خپل شخصی شرکتونه لري او په بښارګوټوکی تری کاراخلي همدارنګه له خپل وظیفوي موقف څخه ناوړه ګټه پورته کوي.

**د موضوع تحلیل:**

غیررسمی کړنی د کارکوونکوهغو کړنو ته وایی چی په رسمی وختونو تر سره شوی وی او په اداری پوری تړاو ونلری. چی په یاده پروسه کی یی ډیری بیلګی لیدل شوی. چی په دی سند کی نه ځاییږي. د کابل د کډوالو چارو په ریاست په ځانګړی توګه د ځمکی دویش په پروسه کی وضعیت څه ډول دی؟ د کارکونکو په کړنوکی په رسمی وختونوکی غیررسمی کړنی لیدل کیږي که نه ؟ په دی اړه ځواب ورکونکو خپل نظریات او ځوابونه وړاندی کړي دي.

په دی برخه کی مثبت او منفی ځوابونه دواړه یوشان دي. یوشمیرځواب ورکونکو چی د مرکه کوونکو نیمه برخه جوړوي ویلی دی چی په یولړمواردوکی غیررسمی کړنی لیدل شوی دي. دهغوی په وینا کارکونکی د ورځی په اوږدوکی د دوه یا دریو ساعتونولپاره پخپلو شخصی کارونو بوخت وي او اکثره وختونه د دی په ځای چی د مراجعینو کارونه سرته ورسوي خپلوشخصی چاروته پاملرنه کوي.

یوشمیرنورو مرکه کوونکو چی شمیریی د پام وړبلل شوی څرګنده کړی چی د کارکونکو په ورځنیو کړنو کی په رسمی وخت کی غیررسمی چاری او کړنی شتون نلري. سربیره پردی د ارزونی د ډلی کتنو او څیړنو ښودلی ده چی غیررسمی فعالیتونه لږ او زیات شتون لري چی د وخت په تیریدو سره پروسه د فساد په وړاندی زیانمنوی. کوم ټکی چی مرکه کوونکو په ګوته کړی په نورو ادارو کی هم په طبیعي توګه ترسترګوکیږي له دی امله خلک له نورو ادارو څخه چی د خدمتونو د وړاندی کولو دنده لري هم شکایت کوی.

**پایلی:**

په ټولیزه توګه د ډلی ارزونه د دی ښکارندویی کوي چی د ځمکی د ویش په پروسه کی د اړونده کارکونکو په کړنو کی غیررسمی کړنی شتون لري او کارکونکی په رسمی وخت کی په خپلو شخصی چارو بوخت وي.

### 5.4 په پروسه کی مدیریت او کنترول :

د ځواب ورکونکو څرګندونی: ځواب ورکونکو په خپل استدلال کی هڅه کوله چی خپله ادعا ثابته کړی چی یو شمیریی په دی باور ول چی داخلی مدیریت او کنترول شتون لري او یو شمیرکارکونکی د کنترول د شتون په سبب عدلی او قضایی ارګانونوته پیژندل شوی. د دی خلاف کومو کسانو چی منفی نظرورکړی زیاته کړی چی کارکونکی ډیری سرغړونی کوی، خپلی دندی ته په وخت نه حاضریږي، په دنده کی بی غوری، د ګټوتضاد د ډالی اوبډو اخیستل، او داسی نورچی دا ټول د مدیریت او کنترول په نه شتون باندی دلالت کوي.

**د موضوع تحلیل**: داخلی مدیریت او کنترول د قانون او مقرراتو د پلی کولو،او په یوه اداره کی د پروسی د منظم پلی کولو په موخه بنسټیز رول لري. په دی اساس داخلی مدیریت او کنترول یومعیاردی چی پربنسټ یی د فساد پروړاندی زیانمنل پیژندل کیږي. دا چی داخلی مدیریت او کنترول د ځمکی د ویش په پروسه کی بسنه کوی یا نه ؟ هغه پوښتنه ده چی ډیرمرکه کوونکو ورته منفی ځواب ورکړی.

**پایلی:** په هرصورت که له ډیرو تفصیلاتو تیرشو له ټولو مالوماتو او ځوابونوڅخه داسی جوتیږي چی داخلی مدیریت او کنترول په کافی اندازه شتون نلري. چی پخپله د فساد په وړاندی د ځمکی د ویش پروسه زیانمنوی او دی کار دخلکو یا مراجعینو اعتماد زیانمن کړی دی.

### 5.5 د حقوقو، دندو او مسوولیتونو غیررسمی ویش:

د حقوقو، دندو او مسوولیتونو غیررسمی ویش هغودندو ته ویل کیږی چی د لایحی خلاف کارکونکوته سپارل کیږي او یوشمیرکارکونکوته پرته له کوم معیارڅخه اضافی امتیازات ورکول کیږي. ځواب ورکونکو د دی پوښتنی په ځواب کی ویلی ، د حقوقو، دندو او مسوولیتونو غیررسمی ویش شتون لري؟ په دی ریاست کی یوازی د دندو غیررسمی ویش شتون لري. دهغوی په وینا د کډوالو چارو د ریاست د ځمکی د ویش کارکونکو ته ډیری وختونه د آمرینو له خوا اضافی دندی سپارل شوی چی د دندی له لایحی سره یی سمون نه درلود.

**پایلی:** په خلاصه ډول د ټولو مالوماتو او ځوابونو په پام کی نیولو سره ویلی شو چی د ځمکی د ویش په پروسه کی د حقوقو او مسوولیتونو غیررسمی ویش شتون لري او دغه کار د اندیښنی وړ بلل شوی.

### 5.6 غیرموجه نفوذ او په پروسه کی د مکلفیتونو ناسمه لاربنوونه

د ځواب ورکونکو څرګندونی: کومو کسانو چی باور درلود چی په پروسه کی غیرموجه نفوذ شتون لري زیاته کړی چی زورواکی، متنفذین او د ځمکی مافیایی کړی د ځمکی د ویش د پروسی په اړونده مدیرانو باندی نفوذ کوي. او د دوی داخلیدل اړونده دفترونوته د دی لامل کیږي چی پروسه دیو شمیراشخاصو او افرادو په ګټه انحراف وکړي. له بلی خوا د ارزونی ډلی او مراجعین هم د دی ستونزی شاهدان دي. حتی یوشمیرکارکونکو مراجعینو ته مشوره ورکوله چی که کوم زورواکی یا وکیل پیژنی له هغه نه دی مرسته وغواړي ترڅو کاریی ژر سرته ورسیږي. څکه اوس کارکونکی داسی عادت شوي چی باید د زورواکو اړونده غوښتنلیکونوته په لومړیتوب کی ځای ورکړي. کومو کسانو چی په غیرموجه نفوذ باورنه درلود هغوی له مباحثي څخه ډډه کړی.

**د موضوع تحلیل:**دغیرموجه نفوذ په ترڅ کی زورواکی، متنفذین او د ځمکی مافیایی کړی د ځمکی د ویش د پروسی په اړونده مدیرانو باندی نفوذ کوي او ټولو مرکه کوونکو په دی موضوع باندی اعتراف کړی. سربیره پردی د مرکه کوونکو په وینا یو شمیرد ځمکی ما فیایی کړی کله چی خپله شخصی ګټه د کډوالو په ښارګوټوکی ونه ګوري د کارد پرمختګ خنډ ګرځي.

یوشمیرمرکه کوونکو د مرکی په ترڅ کی د غیرقانونی فشارونو له شتون څخه سرټکولی چی د ځمکی د ویش د پروسی په مامورینو تحمیلیږی. خو هغوی د فشارونو په وړاندی مقاومت کوی او فشارته نه تسلمیږي. یوه ځواب ورکونکی چی خپله د کډوالو د ریاست کارکونکی وو ویلی: د ځمکی د ویش په پروسه کی غیرموجه نفوذ په بی ساری ډول شتون لري خو کارکونکی فشارونو ته تن نه ورکوي او خپل کړه وړه په ژمنتیا سره سرته رسوي.

**پایلی:** د هغو مالوماتو پر بنسټ چی په مستقیم ډول له مراجعینو، کارکونکو ، د ریاست له چارواکو ، او د ځمکی د ویش د پروسی د کړنو له عینی کتونکو څخه ترلاسه شوی ښیی چی غیرموجه نفوذ شتون لري چی د ځمکی د عادلانه ویش مخنیوی کوي.

### 5.7 د کړنو د ترسره کولو په بدل کی د ډالی اخیستل

د ځواب ورکونکو څرګندوني: د مرکه کوونکو له خبرو څخه داسی مالومیږي چی نه یوازی د ډالی اخیستل بلکه د بډو اخیستل هم په یوه بربنډ کاربدل شوی. ډالی خو بی له کومی ویری د کارکونکولخوا غوښتل کیږي. یوه مرکه کوونکی د خپلو سترګو لیدلی حال داسی بیان کړی چی یوه کارکونکی له دریو مراجعینوڅخه وچه میوه او جامی غوښتی وی چی مراجعینوورته برابری کړی وی. کله چی د یوه شخص کارپآی ته ورسیږي او ځمکه ترلاسه کړي د ډالی ورکول یو حتمی امرګڼل کیږي چی باید کارکونکوته یی ورکړي. کومو کسانو چی د ډالی اخیستل رد کړی ډیری یی د پروسی کارکونکی ول چی هغوی د ډالی اخیستل له قانون څخه سرغړونه بلله.

**د موضوع تحلیل؛** د مرکه کوونکو ډیری برخی په خپل ځواب کی ویلی چی د پروسی کارکونکی ډالی غواړی او له مراجعینوڅخه یی اخلي. هغوی زیاته کړی چی د کارکونکو معاش کم دی هغوی رښتینی ندی، داخلی مدیریت او کنترول شتون نلري همدارنګه د مجازاتو او مکافاتو سیستم هم شتون نلري چی دا ټول اسباب د دی لامل کیږي چی کارکونکی د کارد ترسره کولو په بدل کی د ډالی غوښتنه وکړي.

**پایلی:** د لاسته راغلو مالوماتو پر بنسټ په لنډ ډول ویلی شو چی د ډالی اخستل د کارکونکو په منځ کی په یوه عادی کاربدل شوی.

### 5.8 د اداری فساد ، غیراخلاقی او غیرمسلکی چلند په اړه د پروسی د اړوندو څانګو د کارکونکو پوهاوی

**د ځواب ورکونکو څرګندونی:** په دی هکله مرکه کوونکو ویلی دی چی د پورتنیو موضوعاتو په اړه د کارکوونکو پوهاوی کم دی. او دی ته اړتیا ده چی اړوند ارګانونه د دی موضوعاتو په اړه د کډوالو په وزارت کی ورکشاپونه په لاره واچوی.تر څو د پورته موضوعاتو په اړه د کارکوونکو وړتیا وده وکړی.

**پایلی:** د ټولو مالوماتو او موندنو له تحلیل او مطالعی څخه داسی په لاس راځی چی د مهاجرینو او راستنیدونکو چارو وزارت پدی هکله د منظمو او رسمی پروګرامونو په ترڅ کی خپلو کارکوونکو ته مالومات ندی ورکړی.

### 5.9 د کارکونکو د دندی خوندیتوب

**د ځواب ورکونکو څرګندونی:** د مرکه کوونکو څرګندونی پدی اړه د دی ښکارندویی کوي چی د دندی د خوندیتوب په اړه قانون په پام کی نه نیول کیږي چی علت یی اداری فساد په ګوته شوی او باید په دی هکله هراړخیزه کاروشي.

**د موضوع تحلیل:** مرکه کوونکو ویلی چی د ملکی مامورینو په قانون کی د مامورینود دندی د خوندیتوب په هکله وړاندوینه شوی چی د ځمکی د ویش د پروسی کارکونکی هم د دی قانون ترپوښښ لاندی راځي.

**پایلي:** د لاسته راغلو مالوماتو څخه دا څرګندیږی چی د دندی خوندیتوب د ملکي کارکوونکو په قانون کی په پام کی نیول شوی. که چیری نوموړی قانون په اغیزمن ډول پلی شی نو ستونزی به له منځه ولاړی شی.

### 5.10 په پروسه کی د ګټو تضاد

**د موضوع تحلیل:** د ارزونی د ډلی د موندنو پر بنسټ د ګټو تضاد یوه ستره ننګونه ده چی په پروسه کی شتون لري. او د ښارګوټود ودانولو په چارو کی د کیفیت په پام کی نیولو په وړاندی ستره ننګونه ګڼل کیږي. مرکه کوونکو په دی اړه داسی ویلي: چی یوشمیرکارکونکی شخصی ودانیزشرکتونه لري او د ځمکی د ویش وړ کسان اړباسی چی خپل ودانیزکارونه دوی ته ورکړي.

**پایلی:** د مرکه کوونکو له نظریاتو داسی مالومیږی چی د ګټوتضاد په پروسه کی شتون لري. یوشمیرکارکونکی شخصی ودانیزشرکتونه لري او د ځمکی وړ کسان اړباسی چی خپل ودانیزکارونه دوی ته ورکړي.

## 5.11 د اداری فساد پر وړاندی د ځمکي د ویش د پروسی د ربښتینو کړنو زیانمننه

د ارزونی ډلی د ځمکی د ویش د پروسی د رښتینو کړنو زیانمننه د پوښتنو د طرحه کولو د لاری په لاندی ډول پیژندلی دی:غیررسمی فعالیتونه، د داخلی مدیریت او کنترول نه شتون، د حقوقو،دندو او مسولیتونو غیررسمی ویش، غیرموجه نفوذ، د ډالی اخستل، د پروسی د کارکونکو ناپوهی د اداری فساد په هکله ، غیراخلاقي او غیرمسلکی چلند، د کارکونکو د دندی د خوندیتوب نشتوالي، په کاری پروسه کی د ګټوتضاد.

- ✓ د وزارتونو ترمنځ د ۱۰۴ ګڼي فرمان په اړه د هغمړي نشتون د دی لامل شوی چی بنستیزی پروژی په ښارګوټوکی پلی نشي. چی دی نه همغږی د وړو کسانو لپاره دځمکی ویش له ستونزو سره مخ کړی. او بلاخره دا کارد دی لامل شوی چی راستنیدونکی او مهاجرین د کډوالو په ښارګوټوکی استوګنه ونشي کړای.
- ✓ د ځمکی د ویش اړونده پروسیجرونه ترډیره بریده بیروکراتیک، پیچلی او اوږده دي چی ۶۳ پړاوونه لري او مراجعینو ته ستونزی پیداکوی. سربیره پردی دغه پروسه د ۱۰۴ ګڼی فرمان پربنسټ داسی تنظیم شوی چی عملی اړخ نلري.
- ✓ د مراجعینو او کارکونکو ترمنځ مستقیمی اړیکی له یوی خوا فساد ته موکه برابروي او له بلی خوا د پروسی د پلی کولو مخی ته خنډ واقع کیږي.
- ✓ غیرموجه نفوذ د زورواکو او مافیایی کړیو له خوا له بده مرغه د منځنی کچی چارواکی اړباسی چی بی عدالتی وکړي. او د آمرینو مکلفیتونه د فساد لوری ته متوجه کړی.
- ✓ په رسمی وخت کی د مامورینونه حاضریدل یا خپلوشخصی چارو کی بوختیا ، او د کابل دکډوالو چارو په ریاست کی د کمزوری مدیریت او کنترول له امله د مراجعینو تراکم رامنځته شوی. او هغوی یی له پروسی څخه نا خوښی کړي دي.
- ✓ د یوشمیرمرکه کوونکو په وینا د چاروکو لخوا یوشمیرمراجعین ډبول شوي او له هغوی څخه بډی غوښتل شوي دي.
- ✓ د کابل ولایت د کډوالو په ښارګوټوکی تر ۳۵۰۰ زیاتی نمری د شمیری پرته د یوه نه ډیرو کسانو ته ویشل شوی چی د وړو کسانو په منځ کی یی اختلاف رامنځته کړی.

## 5.12 سپاربښتنی

أ. په ۱۰۴ ګڼه فرمان کی یاد شوی وزارتونه او اورګانونه چی دځمکی د ویش په پروسه کی ګډکارکوي باید په ګډه یوه ارزونه ترسره کړي او معلومه کړي چی د کډوالو د ښارګوټو د بنستیزوکارونو په وړاندی د خنډونو اصلی لامل څه دی. او د هیواد په ۶۰ ښارګوټوکی د د بنستیزوکارونو په وړاندی ټول خنډونه له منځه یوسي.

- **مسوله اداره یا شعبه:** د مرکزی کمیسیون ریس او ټول غړي

- **ضرب الاجل:** د رپوټ له خپریدلو دوه میاشتی وروسته

ب. د کډوالو او راستنیدونکو چارو وزارت باید یو تړون له هغو ارګانونوسره لاسلیک کړي چې په ۱۰۴ ګڼه فرمان کې یې یادونه شوی ترڅو د ښارګوټود چارو د اغیزمنی او ګټوری همغږی لپاره موکه برابره کړی.

ج. **مسوله اداره یا شعبه:** د کډوالو وزارت مقام

د. **ضرب الاجل:** د رپوټ له خپریدلو دری میاشتی وروسته

ه. اوسنی موجوده پروسیجرونه چې په سنتی ډول مخ ته وړل کیږي باید اضافی مادی او مرحلی تری لری شي لکه د پیژندپانی لیږل د د وګړو د ثبت ریاست ته یا د وکیل ګذر تایید په هغه فورمه کې چې د ملګرو ملتونو د کمیشنری له خوا ورکول کیږی.

- **مسوله اداره یا شعبه:** په مرکزی کمیسیون کې غړي اداری، د کډوالو چارو وزارت په ځانګړی توګه د کابل د کډوالو چارو ریاست
- **ضرب الاجل:** د رپوټ له خپریدلو دری میاشتی وروسته

و. اوسنی کړندود چې مراجعین له کارکونکوسره پکښی نیغ په نیغه اړیکی لري باید بدل شي او دهغوی اړیکی پری شي.

- **اداره/ شعبه مسئول:** د مرکزی کمیسیون ریس،د پروسی ولایتی کمیسیونونه ، په ولایتونوکی د کډوالو چارو ریاستونه
- **ضرب الاجل:** د رپوټ له خپریدلو دری میاشتی وروسته

ز. د هغو ۳۵۰۰ نمرو دقضیی د حل لپاره چې د کابل ولایت د کډوالو په ښارګوټو کې د نمری د لرلو پرته او په تکراری ډول له یوه وړ کس څخه زیاتو کسانوته ویشل شوی باید یو ګډ پلاوی د څارنوالی، د پلټنی د عالی اداری او د څاراو له فساد سره مبارزی د عالی کمیسیون په ګډون جوړشي ترڅو د نمرود ویش څرنګوالی وارزوي. سربیره پردی نوری سرغړونی چې د ځمکی د ویش په پروسه کی ترسره شوی باید ترکتنی لاندی ونیول شي او حق وړو کسانوته وسپارل شی.

- **مسووله اداره:** د څار عالی اداره، لوی څارنوالی او د پلټنی عالی اداره
- **ضرب الاجل:** د رپوټ له خپریدلو دوه میاشتی وروسته

## 6. د. په پروسه کی د مالوماتو او سندونود مدیریت د سیستم ارزونه

دا څلورمه ساحه ده چی د ځمکی د ویش د پروسی په برخه کی ترارزونی لاندی نیول کیږي. د اداری د مالوماتو او اسنادو د مدیریت د سیستم وضعیت د کارپه څرنګوالی او خدمتونو په وړاند ی کولو کی مهم اوبنستیز رول لوبوي. بی له شکه کله چی دیوی اداری د اسنادو او مدارکو تنظیم او ارشیف سنتی او کلاسیک یا زوړ وي د خدمتونو د وړاندی کولو په برخه کی منفي اغیزه کوي. برعکس، د مالوماتو او اسنادو د مدیریت مدرن او نوی سیستم د یوی اداری په ټولو برخوکی په ځانګړی توګه د خدمتونو د وړاندی کولو او کارد چټکتیا او ځواب ورکولو په برخه کی په کم وخت کی کلیدی رول لوبوي.

په دی برخه کی د ارزونی موخه د ځمکی د ویش په پروسه کی د ستونزو او ننګونو پیژندل دی چی کولای شي د فساد په وړاندی په پروسه کی زیانمنونکی شي. د زیانونو د روښانه کولو په موخه او دا چی څه ډول د فساد لامل کیږي یو لړ پوښتنی مطرح شوی چی د مرکه ورکونکو لیدلوری د ځوابونو له لاری انعکاس موندلی.




**د خواب ورکونکو خوابونه** د/1 الی د/4.

### 6.1 د ځمکی د ویش په پروسه کی د مالوماتو او اسنادو د مدیریت د سیستم څرنګوالی

د ځواب ورکونکو څرګندونی: کومو کسانو چی شکایت درلود ویل یی چی د اسنادو د ترلاسه کولو لپاره ډیروخت ته اړتیا ده او دا په مامورینو پوری اړه لري چی څه ډول چلند غوره کوي. که وغواړي کولای شي ډیرژر اسناد د مراجعینو په واک کی ورکړي. د دیتابیس د شتون په هکله موافق نظر ورکړل شوی چی له دیتابیس څخه ترډیره بریده د مالوماتو د یوی دستګاه په توګه کاراخیستل کیږي او له دی سربیره مامورین کلاسیک یا زوړسیستم هم ساتلی.

**د موضوع تحلیل**

د مالوماتو او اسنادو د مدیریت د سیستم شتون نه یوازی دا چی دکارکونکو کارآسانه کوی بلکه مراجعینوته د خدمتونو دوړاندی کولو لړی هم چټکوي او د وخت له ضایع کیدو څخه مخنیوی کوي. چی په پایله کی د مراجعینو د خوښی سبب ګرځي. دا چی دکابل دکډوالو چارو په ریاست کی وضعیت څه ډول دی ؟ دمالوماتو او اسنادو دمدیریت سیستم زوړیا نوی دی؟ یوشمیرمرکه کوونکو ویلی د کابل د کډوالو او راستنیدونکو چارو ریاست دمالوماتو او اسنادو دمدیریت سیستم پخوانی اوزوړ سیستم دی. د دوی په وینا د مراجعینو اسناد پرته له نظم څخه په الماری کی ساتل کیږي. سره له دی چی مرکه کوونکی وایی په دی برخه کی کارهم شوی. هغوی زیاتوی چی په ۱۳۸۴ کال کی د مراجعینود فایلنګ کارکمپیوټری شوی خو بسنه نه کوي. ستونزی لا هم په خپل ځای پاتی دي.

**پایلی:** د دغه څیړنی ډیرمرکه کوونکوویلی چی د مالوماتو او اسنادو د مدیریت سیستم یوسنتی او زوړ سیستم دی چی په ډیرو برخوکی مراجعینوته ستونزی زیږوي. او د کډوالو د چارو ریاست د خدمتونو د وړاندی کولو لړی یی د فساد په وړاندی زیانمنه کړی ده.

## 6.2 د اسنادو د مدیریت میکانیزم

د ځواب ورکونکو څرګندوني: څرګندونی ښیی چی اوس مهال د اسنادو د ساتنی میکانیزم په دیتابیس او د دوسیی په بڼه شتون لري. خو د استفادی طریقه یی فساد ته لاره هواروي او مامورین کولای شي له دی میکانیزم څخه ناوړه ګټه واخلی.

**د موضوع تحلیل**

ځواب ورکونکي چی اکثریت د کابل د کډوالو ریاست کارکونکی ؤ د دی پوښتنی په ځواب کی چی د یوه سند دترلاسه کولو لپاره د مالوماتو او اسنادو مدیریت کوم روښانه میکانیزم لري؟ ویلی چی آرشیف او د اړونده څانګو د فایلنګ سیستم یو روښانه میکانیزم نلري او په دی برخه کی کوم لارښود یا مقرره هم شتون نلري چی په خپل واردغه کارد مراجعینوپه منځ کی خفګان رامنځ ته کړی.

یو شمیرځواب ورکونکي وایی د اسنادو او مالوماتو سیستم کوم روښانه میکانیزم نلري بلکه کله نا کله مراجعین پخپله د اسنادو د موندلو لپاره لاس په کارکیږي ، هغوی وایی کله ناکله مراجعین خپله خپل اسناد په الماریو کی لټوي.

له دی امله د یوه روښانه میکانیزم شتون چی په ترڅ کی یی مراجعین وکولای شي اسنادو ته لاسرسی ولري اړین بلل کیږي چی د خدمتونو د وړاندی کولو لړی په ځانګړی توګه د ځمکی د ویش پروسه یی زیانمنه کړی ده. ځواب ورکونکو نوری ستونزی هم په ګوته کړی، دوی وایی چی اسناد او مالومات په دی پروسه کی خوندی ندی. د هغوی په وینا کارکونکی په یوشمیراسنادوکی لاسوهنه کوي، چی د سندونو خوندیتوب یی زیانمن کړی. او کله ناکله د سندونو په متن کی هم بدلون راولی. له بلی خوا مراجعین سندونوته بعضی وخت لاسرسی نه لري چی خپله یوه جدی ستونزه بلل کیږي. مرکه کوونکو په ډاګه ویلی چی هغوی باورنلري چی سندونه یی خوندی دی او دا اندیښنه هم لري چی کیدای شی اسناد یی ورک شي.

**پایلی:** د ترلاسه شوو مالوماتو پر بنسټ ویلی شو چی ترټولو مهمه ساحه چی د فساد په وړاندی زیانمنه ده د اسنادو په نوبت اینښودل دی چی په ظاهرکی ښه کاردی خو فساد ته موکه برابروي چی یوشخص کولای شی د بډو له لاری خپل نوبت ته ژر ورسیږی. سربیره پردی مامورین د مراجعینو ستونزو ته رسیدنه نه کوی. سره له دی چی د دیتابیس سیستم هم شتون لري. په ټولیزه توګه هغه مالومات چی له کتنو څخه ترلاسه شوی ښکاره کوی چی د اسنادو او مالوماتو په سیستم کی لاهم ستونزی شتون لري ټول مالومات دیتابیس کی نه دی ثبت شوی او کارکونکی هم له سیستم سره بلدتیا نلري.

## 6.3 د اسنادو د مدیریت ډیروخت نیول

څرګندونی : یوشمیرځواب ورکونکی وایی په کارکی ځنډ د مالوماتو او د اسنادوپه مدیریت پوری اړه نلري. بلکه د کارکونکو په ربښتینولی پوری اړه لري. داسی دوسیی شته چی دوه میاشتی ځوک نه دی توانیدلی وی مومي خو داسی دوسیی هم شته چی په دوه ساعتونوکی ترلاسه شوی.

**د موضوع تحلیل:**هغودوه ټکوته په پام چی مخکی یی یادونه وشوه، یودا چی کوم معیاری سیستم د فایلنګ لپاره شتون نلري، . اکثره ځواب ورکونکو ویلی چی له ارشیف څخه د اسنادو اخیستل او ترلاسه کول ډیروخت ته اړتیا لري. مرکه کوونکی وایی ترکومه خایه چی د اسنادو او مالوماتو اداره ډیره پخوانی ده او اسنادو ته لاسرسی لپاره کوم لارښود نه دی جوړشوی چی اړین بلل کیږي. ځواب ورکونکو د یوی پوښتنی په ځواب کی ویلی: دیوه مراجعه کونکی سند ورک شوی وو او کله نا کله به نوموړی شخص اداری ته تګ راتګ کاوه چی د بلی میاشتی ژمنه به ورسره کیدله نوموړي بلاخر وروسته له یوکال هڅو خپل اسناد وموندل.

**پایلی:** د مرکه کوونکو ټولی خبری او نظریات څرګندوی چی ترهغه پوری د ځمکی د ویش د پروسی په برخه کی د شاملو ځانګو د مالوماتو او اسنادو مدیریت کمپیوټری نشی او د اسنادو ترلاسه کولو لپاره کوم لارښود جوړ نشی ستونزه به په ځای پاتی وي.

### 6.4 د سندونو خوندیتوب

د ځواب ورکونکو څرګندونی:د مرکه کوونکو څرګندونی پدی هکله ښی چی د مراجعینو اسناد او مالومات خوندی نه دی او حتی لاس وهنه په کی شونی ده. دهغوی په وینا یو شمیرکارکونکی په سندونوکی لاس وهنه کوي، هغه بدلوي او ډیری وختونه ستونزی په کی جوړوي ترڅو د ناسمو کړنو لپاره بهانه جوړه کړي.

**د موضوع تحلیل**

د مرکه کوونکو څخه د لاسته راغلو مالوماتو اود نیغ په نیغه کتنو پربنسټ چی د ارزونی ډلی په ساحه کی ترسره کړی څخه مالومیږی چی د سندونو خوندیتوب شتون نلري. او کله ناکله د سندونو په متن کی هم بدلون راوستل کیږي. له بلی خوا مراجعین سندونوته بعضی وخت لاسرسی نشی لرلي چی خپله یوه جدی ستونزه بلل کیږي. مرکه کوونکو په ډاګه ویلی چی هغوی باورنلري چی سندونه یی خوندی دی او دا اندیښنه هم لري چی کیدای شی اسناد یی ورک شي.

**پایلی:** د مالوماتو څخه دا څرګندیږی چی دمالوماتو د مدیریت اوسنی سیستم له خوندیتوب څخه برخمن نه دی.

### 6.5 د اسنادو او مالوماتو د سیستم زیانمننی

- ✓ سره له دی چی په وزارت کی دیتابیس شتون لري خو کارکونکی تری ګټه نه اخلي. او اسناد په نامنظم ډول ساتي. چی بعضی وخت دا کار د دی لامل کیږي چی اسناد ورک شي.
- ✓ په ځانګړو صندوقونوکی د مستحقینو د اسنادو ایښودل په نوبت کی، په ظاهرکی یو مناسب کاربشکاري خو له کومه ځایه چی مامورین ورته اسانه لاسرسی لري کیدای شي اسناد صندوقونوته بدل رابدل شي او یو مستحق شخص ډیروخت په طمعه پاتی شي ترڅو یی چی نوبت رارسیږي او یا د نوبت د رسیدلو لپاره بډی ورکړي.
- ✓ د پروسی زیات وخت نیول د مامورینو د سلیقه ای چلند او د دندی په ترسره کولو کی د ځنډ په سبب رشوت او د فساد نورو انواعو ته موکه برابروی .
- ✓ لکه څنګه چی په رپوټ کی یادونه شوی د پروسی اوږدوالی ، د مامورینو سلیقه یی چلند، د دندی په ترسره کولو کی ځنډ ، د سندونو د ساتنی زوړسیستم په خپل ذات کی د بدو اود فساد نورو ډولونوته موکه برابروي.

### 6.6 سپاربښتنی:

أ. د ورځنی ځارد برېښنایی سیستم رامنځته کول ترڅو د نوبت له نه په پام نیولو څخه مخنیوی وکړی. د برېښنایی سیستم له لاری د ټولو اسنادو ځاراوکنترول چی د ورځی په جریان کی طی مراحل شوی او له کارکونکو څخه له دی لاری منظم رپوټ اخیستل.

- **مسوولہ اداره یا شعبه :** د مرکزی کمیسیون دار الانشاء، د بیا ځای پرځای کولو ریاست د دیتابیس مرکزی شعبه
- **ضرب الاجل:** د رپوټ له خپریدلو دری میاشتی وروسته

ب. د اداری اسنادو او د دیتابیس د مالوماتو ترمنځ د کلکی اړیکی ټینګول ترڅو فزیکی اسناد او دیتابیس کی لاس وهنه ونشي.

ج. **مسوولہ اداره یا شعبه :** ولایتی ریاست او د دیتابیس مرکزی ځانګه
د. **ضرب الاجل:** د رپوټ له خپریدلو دری میاشتی وروسته

**پای**

## سرچینی

1. د افغانستان د موقتی اداری د ۱۳۸۱ کال د غبرګولی د ۱۳ نیټی ۲۹۷ شمیره فرمان
2. د افغانستان د جمهوری ریاست د ۱۳۸۴ کال د لیندی دمیاشتی د۱۵ نیټی ۱۰۴ شمیره فرمان
3. د افغانستان د ملی پراختیا ستراتیژي(د کډوالو د بیاراستنیدلو په برخه کی)
4. د وزیرانو د شورا د ۱۳۸۵ کال د زمری دمیاشتی د ۳۰ نیټی ۱۶ شمیره مصوبه
5. د وړتیا د ودی د سیمینارپادبښت چی د ۱۳۸۸ کال د وږی دمیاشتی په ۲۲ او ۲۳ نیټه په لاره اچول شوی وو(د کډوالو او راستنیدونکو چارو وزارت له خوا منظورشوی).
6. د کډوالو او راستنیدونکو چارو وزارت د بیلابیلو کچو له ۱۲ تنو کارکونو سره انفرادی مرکي
7. د څمکی د ویش له ۶ تنو مراجعینو سره ډلیزه مرکه
8. د ۸ تنو مراجعینوسره ډلیزه مرکه
9. له لوړپوړو چارواکوسره ځانګړی مرکه (وزیراو دوه مرستیالان)
10. له پروسی څخه د ارزونی د ډلی ورځنی لیدنه
11. د کډوالو او راستنیدونکو چارو وزارت بریښنا پاڼه www.morr.gov.af

لومړی مل

| مستحقو بی ځایه شوو او راستنیدونکو ته د ځمکی د ویش د پروسی پراوونه | | |
|---|---|---|
| **بنسټ** | دغه پروسه د بیلابیلو کچود مدیرانو د وپزو خرګندونو،او د کړندود د ارزونی، او یوی نمونوي دوسیی چې په بشپړه توګه طی مراحل او ترتیب شوی وه پر بنسټ ترتیب شوی ده. | |
| **موخه** | د راستنیدونکو او مستحقو بی ځایه شوو لپاره د ځمکی د ویش په پروسه کی د احتمالی اداری فساد په وړاندی د زیان منلو تشخیص او پیژندل او د بنه والی په موخه سپارښتنی | |
| **شمیره** | **د ځمکی د ویش د پروسی مرحلی** | **د کړنو مسوول** |
| ***لومړی مرحله : د عریضی یا غوښتنلیک وړاندی کول او دعویت پیژندل*** | | |
| 1 | د کډوالو چارو اړونده ولایتی ریاست یا د وزارت مقام ته د عریضی او تذکری وړاندی کول د VRF د فورم په ګډون | عارض |
| 2 | د وزارت د مقام ملاحظه شد او لاسلیک او اړونده ریاست ته راجع کول | د وزارت مقام |
| 3 | د احکامو د ثبت په کتاب کی د مقام د حکم ثبتول | د اسنادو او اړیکو ریاست |
| 4 | اړونده ریاست ته د احکامو لیږل | عارض/ د اسنادو او اړیکو ریاست |
| 5 | د نورو اجراآتو پّه موخه د حکم راجع کول د ځای پرځای کولو عمومی مدیریت ته | اړونده ریاست |
| 6 | د نفوسو د احوال د ثبت ریاست ته د عارض په نوم د استعلام لیږل ترڅو د تذکری تایید ترلاسه شي. | د ځای پرځای کولو مدیریت |
| 7 | د استعلام لاسلیک او مهرکول | اړونده ریاست |
| 8 | د ځای پرځای کولو د مدیریت په صادره کتاب کی د استعلام ثبت | د ځای پرځای کولو مامور |
| 9 | د نفوسو د احوال دثبت ریاست لاسلیک او د نورو اجراآتو په موخه اړونده مدیریت ته راجع کول | د ثبت احوال نفوس ریس |
| 10 | د استعلام د متن ملاحظه شد او لاسلیک او ناحی ته راجع کول | اړوند مدیریت |
| 11 | ناحیی ته د راجع کولو په موخه د نفوسو د احوال د ریس مهر اولاسلیک اخیستل | د ثبت احوال نفوس ریس |
| 12 | د ناحیی لخوا اړونده مدیریت ته لاربښوونه ترڅو د استعلام ځواب ولیکي | اړوند مدیر |
| 13 | د استعلام ځواب او د اړونده مدیرلاسلیک | د ناحیی اړونده برخی مدیر |
| 14 | په ناحیه کی د نفوسو داحوال دثبت د مدیرلاسلیک | د ناحیی عمومی مدیر |
| 15 | د نورو اجراآتو په موخه د استعلام د ځواب لیږل | عارض |
| **دوهمه مرحله : د راستنیدلویا بی ځایه کیدو ثبوت** | | |
| 16 | د ځای پرځای کولو او بی ځایه شوو د عمومی مدیریت لخوا اړونده ناحیی یا ولسوالی ته استعلام لیږل ترڅو د عارض د استوګنی او راستنیدلو یا بی ځایه | عمومی مدیریت |

| | | |
|---|---|---|
| | کیدو په هکله مالومات ترلاسه شي | |
| 17 | د کډوالو چارو ریس مهر او لاسلیک | د کډوالو چارو د دفترریس |
| 18 | د استعلام لیږل اړونده د ګذروکیل ته ترڅود عارض بیا راستنیدل او استوګنه تصدیق کړي | عارض |
| 19 | د ګذردوکیل تصدیق | د ګذروکیل |
| 20 | د راستنیدونکی د استوګنی تصدیق د ناحیې یا اړونده ولسوالی له خوا | د ناحیې اړونده مدیریت |
| 21 | د ګذردوکیل له تایید او مهروروسته د ناحیې د ریس مهراو لاسلیک | د ناحیې ریس |
| 22 | د ناحیې د تصدیق ثبت او راجستر | د واردی او صادری مامور |
| 23 | د بې ځایه شوو او ځای پرځای کولو عمومی مدیریت ته د استعلام د ځواب لیږل د بې ځایه شوی یا راستنیدونکی د تایید او تصدیق په ګډون | عارض |
| 24 | که چیری ځواب منفی وي یعنی د نفوسو د احوال د ثبت او ناحیې یا ولسوالی لخوا د عارض هویت تصدیق شی خو استوګنه یا بې ځایه کیدل او یا راستنیدل یې تایید نه شي د ځای پرځای کولو عمومی مدیریت اسناد له ځان سره ساتي او عارض ته ځواب ورکوي. که چیری ځواب مثبت وي یعنی د عارض هویت او استوګنه او راستنیدل یا بې ځایه کیدل تایید شي د عارض سند د ناحیې یا ولسوالی له خوا د یوه رسمی مکتوب له لاری د ولایت اړونده د کډوالو ریاست ته راجع کیږي. | د ځای پرځای کولواو بې ځایه شوو عمومی مدیریت |
| **دریمه مرحله: د استحقاق یا عدم استحقاق ثبت او راجستر** | | |
| 25 | که چیری ځواب مثبت وي یعنی د نفوسو د احوال د ثبت او ناحیې یا ولسوالی لخوا د عارض استعلام ځواب د عارض عریضه یا غوښتن لیک د ځای پرځای کولو عمومی مدیریت ته د ثبت او راجسترپه موخه استول کیږي. | د ځای پرځای کولواو بې ځایه شوو عمومی مدیریت |
| 26 | د ځای پرځای کولو عمومی مدیریت مستحق شخص ته د عدم سرپناه فورمه وروسته له ثبت او راجسترڅخه ورکوي. | د ځای پرځای کولواو بې ځایه شوو عمومی مدیریت |
| 27 | کډوال فورمه په سمه توګه ډکوي او د وړاندی شوو مالوماتو تایید کوي. | عارض |
| 28 | مستحق شخص یا کډوال فورمه د تصدیق لپاره د کلی ملک یا د ګذروکیل ته ورکوي. | عارض |
| 29 | د ګذروکیل یا ملک د سرپناه د لرلو او نلرلو تصدیق کوي. | د کلی ملک / د ګذروکیل |
| 30 | مستحق شخص د وکیل ګذریا ملک تصدیق ناحیې یا اړونده ولسوالی ته وړاندی کوي. | عارض |
| 31 | ناحیه یا د ګذروکیل د وکیل له برحالی څخه تصدیق کوي. | د ناحیې ریس/ ولسوالی |
| 32 | مستحق شخص فورمه د نورو اجرااتو په موخه د ځای پرځای کولو عمومي مدیریت ته تسلیموي | عارض |
| 33 | د ځای پرځای کولو عمومی مدیریت که چیری ځواب منفي وی یعنی شخص د عدم سرپناه تصدیق ونلري عریضه ردوي او که چیری ځواب مثبت وي تصدیق پانه د دیتابیس واحد ته د ثبت او راجستردرجه بندی په موخه وړاندی کوي. | د ځای پرځای کولواو بې ځایه شوو عمومی مدیریت |

| | | |
|---|---|---|
| 34 | د دیتابیس مدیریت وروسته له ثبت او راجسترڅخه شمیره په فورمه کی درج او د ځای پرځای کولو عمومی مدیریت ته یی استوي. | د دیتابیس مدیریت |
| 35 | د ځای پرځای کولواو بی ځایه شوو عمومی مدیریت د مستحق اسناد او پانی کمیسیون ته وړاندی کوي او دکمیسیون د منشي په نوملړکی یی شاملوي. | د ځای پرځای کولواو بی ځایه شوو عمومی مدیریت |
| 36 | د کډوالو چارو ریس د ولایت د کمیسیون د منشی په توګه د مستحق شخص اسناد د کمیسیون په اجندا کی شاملوي. | د کډوالو چارو ریس |
| 37 | د کمیسیون غړي اسناد مطالعه او تحلیلوی یی او همدارنګه تخنیکی کتنه ترسره کوي. | د کمیسیون غړي |
| 38 | که چیری په اسنادوکی ستونزه شتون ولري د اصلاح او بیا کتنی لپاره د کډوالو ریاست ته راجع کیږي او که چیری اسناد کومه ستونزه ونلري او بشپړوي مستحق شخص ته یوه نمره ویشل کیږي او اړونده نمره او پته یی په فورمه کی درج او لاسلیک کیږي. | د کمیسیون غړي |
| 39 | د کډوالو چارو وزارت د کډوالو چارو اړونده ریاست د تخنیکی تشو د شتون په صورت کی سندونه بیا ګوری او لازم اصلاحات په کی راولي. که چیری تخنیکی ستونزی موجودی وي له عارض سره اړیکه نیول کیږي ترڅو تخنیکی ستونزه رفع کړي او سند دوهم ځل کمیسیون ته وړاندی کیږي. | د کډوالو چارو وزارت |
| 40 | د ځمکی د ویش کمیسیون یو ځل بیا اسناد ګوري مستحق شخص تثبیتوي او دعدم سرپناه په فورمه کی دنمری شمیره او موقعیت لیکي. | د ځمکی د ویش کمیسیون |
| 41 | اړونده سندونه د نورو اجرااتو په موخه د ځای پرځای کولو عمومی مدیریت ته سپارل کیږي. | د کمیسیون منشي |
| 42 | د ځای پرځای کولو عمومی مدیرله مستحق راستنیدونکی سره اړیکه نیسي. | د ځای پرځای کولو عمومی مدیر |
| **څلورمه مرحله : د ځمکی د بیی تادیه او د ځمکی ویش مستحق شخص ته** | | |
| 43 | د ځای پرځای کولو عمومی مدیریت مستحق شخص د تعرفی د ترلاسه کولو په موخه د مالی او اداری عمومی مدیریت ته په رسمی ډول ورپیژني. | د ځای پرځای کولو مدیریت |
| 44 | د صادری او واردی مامور مکتوب په صادره کتاب کی ثبت او وروسته یی د مالی عمومی مدیرته وړاندی کوي. | د صادری او واردی مامور |
| 45 | د مالی او اداری عمومی مدیرمکتوب د نورو اجرااتو په موخه د محاسبی مدیرته راجع کوي | د مالی او اداری عمومی مدیر |
| 46 | د محاسبی مدیرمکتوب دصادری مامور ته د ثبت په موخه راجع کوي. | د محاسبی مدیراو دصادری مامور |
| 47 | د محاسبی مدیر د مستحق شخص په نوم تعرفه ترتیبوي او دمالی عمومی مدیرته یی وړاندی کوي. | د محاسبی مدیر |
| 48 | د مالی او اداری عمومی مدیرتعرفه لاسلیک او مستحق ته یی سپاري. | د مالی او اداری عمومی مدیر |
| 49 | مستحق شخص تعرفه د افغانستان بانک ته وړي او ټاکلی پیسی تادیه کوي. او له بانک څخه آویزیا رسید ترلاسه کوي. | عارض |
| 50 | مستحق شخص آویزد ځای پرځای کولو مدیریت ته سپاري. | عارض |
| 51 | د ځای پرځای کولواو بی ځایه شوو عمومی مدیریت له مستحق څخه کتبی یا لیکلی ژمنه اخلی ترڅو خپله ځمکه کی ودانیزکارپه ټاکلی موده کی بشپړکړي. | د ځای پرځای کولواو بی ځایه شوو عمومی مدیریت |

| | | |
|---|---|---|
| 52 | د ځای پرځای کولواو بی ځایه شوو عمومی مدیریت مستحق راستنیدونکی د ښارګوټی انجنیرته د نمری د ترلاسه کولو په موخه معرفی کوي. | |
| 53 | د ښارګوټی انجینرنمره په نښه کوي او دکرښو له اچولو وروسته یی مستحق ته تسلیموي. | د ښارګوټی انجنییر |
| **پنځمه مرحله : د مستحق شخص لخوا د ځمکی ۳۰ نه ۴۰ سلنو پوری ودانول او د موقت سند ترلاسه کول** | | |
| 54 | مستحق شخص مکلفیت لري چی د دریو میاشت په ترڅ کی لږترلږه دیرش ځمکه ودانه کړي چی موظف انجنیرپه دی موده کی دکارڅارنه کوي. | عارض (مستحق) |
| 55 | مستحق شخص ټول اسناد او مدارک د ځای پرځای کولو مدیریت ته سپاري. | عارض |
| 56 | د ځای پرځای کولو مدیریت له ټولو شرایطو څخه ډاډ ترلاسه کوي چی مستحق شخص ته د ملکیت موقت سند وسپارل شي. | د ځای پرځای کولواو بی ځایه شوو عمومی مدیریت |
| 57 | که چیری ټول اسناد او پانی بشپړی وی د ځای پرځای کولو مدیریت له مستحق شخص څخه ژمنه اخلی چی د یوه کال په موده کی به ۷۰ سلنه نوره ځمکه هم وادنوي. | د ځای پرځای کولواو بی ځایه شوو عمومی مدیریت |
| 58 | د ژمن پاڼی ثبت او راجسترد مستحق له لاسلیکولو وروسته | د ځای پرځای کولو عمومی مدیریت |
| 59 | د ځای پرځای کولو عمومی مدیریت د ځمکی د موقت ملکیت سند د مستحق شخص په نوم ترتیب اوسپاري. | د ځای پرځای کولواو بی ځایه شوو عمومی مدیریت |
| 60 | د کډوالو چارو ریس د ځای پرځای کیدو د عمومی مدیرترلاسلیک لاندی لاسلیک کوي. | د کډوالو چارو ریس |
| 61 | د کمیسیون ریس هم د کډوالو د ریس د لاسلیک سره سم لاسلیک کوي. | د کمیسیون ریس |
| 62 | وروسته له دی چی ټول لاسلیکونه بشپړشي سند د اړونده برخی د مامور لخوا د ځای پرځای کولو په عمومی مدیریت کی ثبت او راجسترکیږي. | د ځای پرځای کولواو بی ځایه شوو عمومی مدیریت |
| 63 | مستحق ته موقت د ملکیت سند ورکول کیږی | د ځای پرځای کولوعمومي مدیریت |
| **شپږمه مرحله:** د ښارګوټی له بشپړیدو او ښاروالی ته له تسلیمی وروسته ، موقت مالک یا مستحق راستنیدونکی کولای شی د دایمی قوالی لپاره غوښتنه وکړي چی په دی پروسه کی نه شامليږي. | | |